

Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان « خادم »
د «روهی ګاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنې له خپرونو څخه :

دخپرونو نمبر ( ۷۱ )

# روهي ګلونه

مؤلف

قيام الدين «خادم»

دپښتو ټولنې ددائرة المعارف دترجمې دڅانګې مدير

۱۳۲۵

دکابل

عمومي مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زېرى

بلبلان پسې ناري وهي رحمانه ! دبهار گلونه شویدي که نه دي ؟

«رحمان»

* * *

دسونډک مونډک سپلی اخری کیږي پهبلبلو زېرى و کړه : بیا بهار دى

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

دبلبل یا دبو را زده

«خوشحال»

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ :

# روهي ګلونه

هر طرف ته نو بهار دی غوړېدلی
سترګي وخوره چه به دا ننداره نه کا
( خوشحال )

دا ښکلي ګلونه چه د ښاغلي خادم په زيار راغونډ شوي دي او د پښتو ادب مينانو ته د سوغات په توګه وړاندې کيږي ، هغه ګلونه دي چه پښتنو د پخوانيو شاعرانو د زړه په وينو روزلي شوي دي .

خنګه چه تراوسه پورې د پښتو ژبې په ادبياتو کښې داسې يو جامع منتخبات نه و ، او ښاغلي خادم (چه د پښتو يو پياوړی اديب دی) په دې کار ګوتې پورې کړې او بريالی شوی دی ، نو پښتو ټولنه داخپله وظيفه ګڼي چه د دې فاضل دا دستاينې وړ خدمت وستايي او په دې انتخاب دې ته تبريک ووايي او هم په دې ګلونو سره د هغو پرديسانو روح ښاد او ياد کړي چه دوی به د خوازه وطن په بېلتون کښې ويل :

قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوي منت ئې تم دی

او له خدايه غواړي چه داسې ډېر آثار پښتنو ته وړاندې کړي .

( عبد الرؤف « بېنوا » )

د پښتو ټولنې عمومي مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنګ رنګ تا زه ګلونو دسته هغه چانه په مخکښې ږدم چه تر هر چا اوتر څه دروه په ګـلانو مین دی !

دشا هانو ور کړه لعلو چواهر وی        دادب دخاوندانو ؛دزړه وینې

« خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

د لوي څښتن حمد او ثنا وایو. او دده په هغه استازي چه تر ټولو غوره دی؛ او په آل او لادئی، درود لېږو او ددې شکر کوو چه په لنډه موده کښې مونږ د خپل ملت (پښتو او پښتو نولی) په خدمت کښې «چه زمونږ د مشرانو او خصوصا د ګران ټولواک اعلیحضرت محمد ظاهر شاه رضامندي هم په دې کښې ده»

څومره چه کېدی شوه د هغې نه ډېر کامیاب شو. یعنی په کوم وخت کښې د پښتو خدمتګارانو زیات آثار ولیکل؛ چه لږ له دغو څخه چاپ شوی دی؛ او ډېر لا پاتې دي په فرصت کښې به چاپېږي او د ذوق خاوندانو ته به وړاندې کېږي.

یو له دغو آثارو څخه چه د پښتو په ادب کښې ورته ډېره اړتیا لیدل شوه دا کتاب دی چه د «روهي ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت. دا کتاب د ډېرو پخوانو هغو شاعرانو د اشعارو انتخاب دی، چه نن یې آثار ډېر لږ کېږي. دا اشعار او د دغو شعراؤ دیوانونه ما په ډېر کوښښ پیدا کړیدي. او په ډېر زحمت سره مې ترې دا مجموعه جوړه کړېده؛ چه په خپل ډول او ترتیب کښې د نورو ژبو د یوې، انتخاباتو ته هم نده ورته.

او د اله دې کبله چه د پښتو شعر او ادب ځانته روح او ځانته لاری لري. ما دغه روح او د غه اسلوب په نظر کښې نیولی دی؛ او هغسې مې د کتاب د ترتیب نقشه جوړه کړېده. او بیا مې دا کتاب لیکلی دی. ددې کتاب په ترتیب کښې نوې خبره داده چه د تهجي تورو یا د ردیف او قافیې په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښې موضوع او معنی ته زیات اهمیت ورکړی شوی دی. نو هر څومره چه دا مجموعه یوه ادبي مجموعه ده؛ او دا د ادب او شعر د نزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده؛ هغومره د ژوند او زندګۍ د اسرارو خزانه هم ده!

په دغه شان سره د پخوانو کلاسیکي شعراؤ شعر په شپږو بابونو وېشل شویدي چه په هر باب کښې فصلونه دي؛ او په فصلونو کښې هم ځانځانته عنوانونه دي. او د هر عنوان لاندې د مختلفو شاعرانو اشعار لیکلي شویدي. امید دی چه د قدر دانانو په نزد به زما دا خواري ځای و نیسي؛ او په درنه سترګه به ورته وګوري!

کابل - تند وژ سازي - قیام الدین خادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی باب

## مینه او محبت

لویه خدایه ، لویه خدایه ! ستا په مینه په هر ځایه
غر ولاړ دی درناوی کښې تو له ژوی په ځاری کښې
د لته دی د غرو لمنې زموږ کېږدی دی پکښې پلنې
داو ګړی ډېر کړی خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

دلته لږ زموږ اوربل دی ووړ کور ګی دی ، ووړ بورجل دی
مینه ستا کښې مونږ مېشته یو د بل چا په ملک تله نه یو
هسک او ځمکه نغښته ستا ده د مهر و وده له تا ده
دا پالنه ستا ده خدایه !
لویه خدایه ، لویه خدایه !

« بېت بابا »

❀ ❀ ❀

پر لویو غرو هم په دښتو کښې په لوی سهار په نیمو شپو کښې
په غاړه ژغ او په شپیلکو کښې یاد وېر ژلیو په شپیلو کښې
ټول ستا دیاد ناري سوري دی!
دستا د مینې ننداري دی !

جنډی زرغون که په بېدیا دی ډېر ښه خواته په خندا دی
ترنک چه خړدی په ژړا دی دا ټول اغېز د مینې ستا دی
ټوله ښکلې دی ستا له لاسه
ای دپا سوالو پا سه پا سه !

که نمر روښانه مخ یې سپین دی یا دسپوږ مېه تندی ورین دی
که غر دی ښکلې پر تمین دی لکه هنداره مخ یې سپین دی
ستا دښکلا د اپلو شه ده
دا یې یو سپکه ننداره ده

---

لغات : هسک آسمان . مېشته : ډېره . ځاری : عجز . جنډی : ګل . ترنک : دیورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونېږی  دژوند وږمې پکښې چلېږی
بوراوې شا وخوا گرځېږی  ستړ گی لیدو ته یې هېښېږی
لويه خاو نده دا ټوله ته یې
تل دنړ ی په ښکلیده یی

خاونده! ښکلی ستا جمال دی  ښکاره یې لوړ یه لور کمال دی
کوم ځ که شپه که پیری کال دی  ستا دقدرت کمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه ر ننا ده
دلته چه جوړه تما شا ده

زړه مې دا ستا دمینی کوردی  سوی دعشق په سوځندا وردی
رب یی وتا ته په هر لوردی  بیله دې هېڅ دی ورک یی پلوردی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نه وی دغه نور بر باد دی

په غرو کښې ستا دعشق شپېلکی دی  ددې نړ ی په عشق سمی دی
که غټ که ووړ که پنډه نری دی  ستا د جمال ځری هر شی دی
چه پر دنیا مې ستر گی پرې شوې
ستا دجمال په ننداري شوې

نه هسك نه مځکه وه تور تم ؤ  تیا ر ه خپره وه ټول عدم ؤ
نه دا ا بلیس نه نی آدم ؤ  ستا د جمال سو چه پر تم ؤ
چه شو ښکاره ښکلی دنیا شوه
دپنځ پر لوری یی ر ننا شوه

زه چه خر گند پردې دنیا شوم  د ښکلی مخ په تما شا شوم
ستا پر جمال باندی شیدا شوم  له خپلی ستمی را جلا شو م
په ژړا ژړام چه بیلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

و گړ یو ، ولې «متی» ژاړی  سوړې یی اوری غاړې غاړی
څه غواړی، څه وایی، څه باړی  خپل تون او کورو کلی غواړی
چونړی چه بیل شی نیمه خواشی
تل یی دبڼ په لو ر ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

❀ ❀ ❀

---

لغات ـ هېښ : حیران ۰تون : ځای ۰ چونړی : بلبل ۰ بڼ: باغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهی ! د محبت سو زو گداز را … په داور کښې دستی(۱) سمند رسازرا
تن پرور بلبل دې عیش کاندی پر گلو … پروانه لره په اور ز ما گداز را
که مې نزموبی په ویاړ دوزو ستر گو … می د عیش په میخانه کښې د مجازرا
چه نظر له ناتوانی و چا ته نه کا … د هغو بیمارو ستر گو نازو نیاز را
چه مې نوی سر کوزی چاته بې ښکلیو … له دولت د عشقه هسی کبر و ناز را
اضطراب د حرص مې کړې له زړه گی لرې … قناعت قوی لنگر دد ې جهاز را
که مې نه فاشوې سر زید و عمر ته … خپل زانو لکه نر گس محرم راز را
خو به گورم د قیامت و ورځو شپوته … دا انجام په دم قدم کښې د آغاز را

«عبدالمجید مهمند»

چه خپل برگ به آب د چرخ نکړم سر سبز … د همت علو پشان د کهکشان را
چه مدام وی په چشمه د آفتاب والی … د سحر پشان درست عمرسپین دامان را
چه کباب یې په گرمی ، زما ځیگر شی … دلاله غوندی په جام مئې جوشان را

کاظم خان «شیدا »

چه بلبل یې و دیدن ته انتظار کا … تن و ماوته گلشن د هغه باغ را
که مې نه محتاجوې د صبا باد ته … بوی د یار د تورو زلفو په دماغ را
سرخرو یې زما نصیب لکه لاله کړه … پرسینه له محبته هسی داغ را

«شمس الدین کاکړ»

په اوبو کښې یې د کاملی گوټ پیدا کړ … ده ور کړی پکښې اورلره مکان دی
په سجود یې مځکې سردی لگولی … هم یې زوړند په رکوع سره آسماندی

«عبدالرحمن مهمند»

الله مې رب دی زه یې مربوب یم … بنده دده یم که خوب نا خوب یم
غرق په اوبو کښې کله اوبه وینی … نعمت یې نه وینم په نعمت ډوب یم

«عبدالقادر ختك»

دده په حکم با لا پستی شی … مستی خمار شی خمار مستی شی
نه تل بهار وی نه تل خزان وی … هستی نیستی لری ، نیستی هستی شی

«خوشحال ختك»

چه زما په چمن راشی گستاخی کا … د شبنم په ځېر یې عمر یوزمان کړي !
چه آزاده د منکر تر سره پر یوځی … د فلك په ځېر مې توره د زبان کړی !
چه کشور د افغانانو معطر شی … د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبانکړی !
الهی ! د خپل حبیب له بر کته … دا : ساده انشار نگینه درحمان کړي !

«عبدالرحمن مهمند»

---

(۱) په اکثرو نسخو کښې د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خو موږ نږدې یې په معنی نیو هېنږو «خادم»

روغی گڼلو نه (۵۲۵) ب سردار محمد ج سراج الدین ؛ ر محمد امین ؛ ن محمد نعیم ؛ ه اجرائیه پښتو ټولنه لیل ۱۸ : ۸-۳۰-ع

الهي د مينې درد را      کړم دل آهو نه سر درا
خلاص کړه ما له بې دردۍ      له دې هسې د لسر دۍ
زړه په شان د غنچې را کړه      آتشي زما مينا کړه

«کاظم خان شیدا»

پر هر څه چه حق یاد نشي ناتمام دی      پر کاغذ اول دده پنا م قلم ږده

«دوات لواڼی»

## ب : داستاځي په مينه

که رنا ده پيروي د محمد ده      کنه نشته په جهان بله رڼا

«عبدالرحمن مهمند»

ړندې ستر ګې چه د زړه مې پرې بینا شوې      یم پیدین د محمد آخر زمان خوبن

«عبدالعظیم رانیزی»

توره تاریکي توله لدې جهانه لاړه      نوردپاك رسول چه په جهان کښې شه پیدا

«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ      چه مختارؤ خود په ستورو کښې مهتاب

«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبيب له بر کته      شوم لکه ذره هسې په نمر سره اظهار

«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکي توله له دې جهانه لاړه      نوردپاك رسول چه په جهان کښې شو پیدا

«میانعیم متی زی»

په زر ګونو انبیا تر دنیا تېر شو      محمد غوندې بل نه ؤ پیغمبر هیڅ

«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې پټ ګرځم دا زیر رخسار له خلقو      لکه زر چه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی
راحت نه دی بې زحمته چا موندلی      کوم طبیب دی چه په روغ صورت ملهم ږدی
زه هر ګوره خپل صنم پورې شرمیږم      برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی
وآسمان ته لاس د عقل نه رسیږی      داخو عشق دی چه په عرش کرسی قدم ږدی

«عبدالرحمان مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د سربندل دشوار په ما و تا دی
اندېښنه سري بيدار کاندي لـه خوبه

دا په عشق کښي سهل کاردي دشوار ندی
کم انديشه که بيدار دی بيدار نـدی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کاردي دسروشونځوشيريني وی
درحمان په عاشقی کښي سترګي وشوي

د خپل ځان په وينو سو رلکه انار شه
څوك چه وايي عاشق پروند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نـفس لـه خاصيته منـز ه دی

کاردستر ګو به څوك څرنګ پدهانـکـا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت ديار په مينه کښي رب کيښود
دا باران نه دی چه اوری له آسمانه

چه عاشق لره همدرد او همدوا شوه
د مر غانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زرداغونه جوړشی

چه ديـار لـه داغه آه کاڼه ګر م دی
«خوشحال ختك»

زه تر عشق جار پېژم : ترهغو چه عاشقان دی
رايشي له کومه ځای په څوو کا په زړه کښي
هی دخدای ديـاره تفحص رايسی مکړه

واړه عشق يكـار دی حقيقت دی که مجاز دی
هيڅ بري نه پوهيږم عشق يو څه سوز و ګداز دی
پلار ته وايه نشي عشق يو هسی مخفی راز دی
« خوشحـال ختك »

عاشقـان دعشق له کاره انکـارنه کا

فاسقان به په خپل زړه کښي اری غلا
« خوشحـال ختك »

ځيني هـوس کـامينـه پـه بـاغ لـری
داد واړه ګرو هـه بوالهـو سـان دی

خوك مي پـر ستـه حب دا يـاغ لـری
عـاشقـا ن مينه د زړه په دا غ لری
« عبدالقـادر ختك »

ليونی غوندی دعشق په کـارو بـار کښي

د خپل ځان په سودو زيـان نه يم هر ګـز
« عبد الحميد مهمند »

که هرڅـومي تندتېزه تـوسن دعقـل

عـاقبت شوپـه دنبـال د مينـی پـا تـی
« ميا نعيم متی زی »

دعشق يوسبق کـافی دی

نور ددرست جهـان دفتر هيـڅ
« صدرخان ختك »

عـاشـق ګـرم او شوقـی وی
چه دعشق پـه لاره درو می

زاهد سوړ بی حميتـه
خالی ند ی لـه تهمتـه

« دولت لوانی »

(c) ketabton.com: The Digital Library



خام خاطر مې مشوش و په هجران کښې
چه تمام دعشق په اور وسو متین شو

«دولت لوانی»

معرفت ځنې پیدا شو
عشق د عقل پلارو مور دی

«مرزا خان انصاری»

دغه عقل چه په عشق با ندي شیدا شو
دعرب په مینه گوره چه عجم مری

«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی
ودریاب ته ځی که سیل له هر جا پاځی

« مرزا حنان»

په هرداغ مې دخپل زړه هسې باوردی
چه په مرگ به راته شمع شی په گور کښ

« عبدالحمید مهمند»

که شهید نکړی خپل ځان دعشق په توره
نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی

« عبدا لعظیم را نیزی »

دسیماب په شان په لاس کښې نیوی نه شم
عشق را هسی گرم هم نرم هم لطیف

آئینې غو ندی هر و لی هر نا و لی
شی مهمان ځما په کور کښې بی تکلیف

« شمس الدین کاکړ »

هر یو زړه چه شی پیدا غه پکار نه دی
چه بی مهره شی برات هغه باطل دی

« مرزا حنان »

ته دعشق په لذتو نو خبرنه شوې
په سراب دځان مشغول کړ ، له دریابه

هغه چاری چه دعشق په جذبه کېږی
کله کېږی په لښکرو په افواج

« خواجه محمد بنگښ »

جریده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه
بی رفیقه ، بی پناه ځم ، پناه نه لرم بی عشقه

هرساعت چه بیلتون یاد کړم په خپردادو فریاد کړم
څکړم چاو ته فریاد کړم ، نیکخواه نه لرم بی عشقه

مدام غوښې د زړه خورمه ، دزړه وینې به تل څښمه
څکړم څکړم چرته ځمه ، همراه نه لرم بی عشقه

معتقد یدا خپل رزق یم ، مبرا په زړه له فسق یم
واړه سرتر پا په عشق یم ، یوگاه نه لرم بی عشقه

دافقیر دولت نفسی یم ، و گناه ته هوسی هم
خدای مې بیامرزه عاصی یم ، گناه نه لرم بې عشقه

« دولت لوانی »

عشق دی دا که یوفساد دی نه پوهېږم
په جهان کښې چه داشورو شرپیداشه

بیا به روغ دعاشقی له رنځه نشی
په هر تن کښې چه د غه اثر پیدا شه

« عبدالرحمان مهمند »

باد شاهانو که قصرونه کړه آباد — ماد عشق عمارتونه کړه آباد (۱)
نوم دکوم یوه بادشاه هسې یادېږی — لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسې پیر استاددی — چه به نه دی بل دا هسې پیر استاد
دغه واړه کرامت د عاشقی دی — چه څوك غوث کاندی، څوك قطب څوك اوتاد
« عبدالرحمان مهمند »

درحمان شراب له عشقه — نه انگور (۲) نه له عنبه
« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی — چه په اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا
« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ گوګل ستر گی په نم کښې — عشق راوښود بحروبر په خپل حرم کښې
« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنگه ژوندون دی نه پوهېږم — خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
دپتنگ او دبلبل ترمینځ حیران یم — مخ دې اوردی که گلگون دی نه پوهېږم
عشق په هسې رنگ مقام باندی قائم کړم — چه وصال دی که بېلتون دی نه پوهېږم
درحمان څهره یې زیړه زعفرانی کړه — خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم
« عبدالرحمان مهمند »

خود خر گنډوی لکه صبح په جهان کښې — هر گړوان چه په یاری کښې دریده شی
بی مطلوبه بی هیڅ فهم په چا نه وی — هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی — هر کلام چه له رحمانه شنیده شی
« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مې شو تالا په تور د عشق — لا مې ندی لاړ له سره شور د عشق
« عبدالقادر خټك »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه — پوهېدلی په تدبیر وم د دبیر کېج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې — د دغه طبیب دارو لری تاثیر کېج
راهبران دعقل واړه رهزنان دی — لنډ د عشق له لاری مه بیا په بهر کېج
« عبدالحمید مهمند »

په هرځای کښې ناست ولاړ زانگم له غمه — مینی مخ راته د ځمکی گهواره کړ
« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی ناصحه! — دا عبث دی پول د سحر په دریا ږدی
« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی — په دې ناوې نه جوړېږی پسول د چا
« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنونو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانگور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی    د جمله ؤ مخلوقا تو پلار دی دا
بې عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته    تر همه کارو نو غوره کار دی دا
« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سرگردان په جهان نه وی    یا عاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ژ غورې سرومال په عاشقی کښې    عاشقی دا هسی کله ده ویړیا
چه یې کسب عاشقی ده د دلبرو    نظر نه کاندی په کسب د کیمیا
« عبدالرحمان مهمند »

بېدردان دعشق له درده خبر نه شول    براهیم ځکه منت بار دا هل درد یم
« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که اور دی دا    په اور سوزم په رضا که زور دی دا
چه په تله د سرو مال راځخه نه ځی    واقعی د تورو ستر گو تور دی دا
چه یې زه له بله غمه په امان کړم    دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې    لېونی د مجنون کشر و رور دی دا
« عبدالحمید مهمند »

باد ښکلیو دیا ولیو شرنگها ر دی    یا د عشق د لېونیو د ز نځیر
« عبدالحمید مهمند »

بې رهبره بون دعشق پەلاره گران دی    دلیه بویه چه پیدا کاندی رهبر څوك
« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یې رهبر پیر کامل دی    عاشقان ځکه طلب دبل پیر نه کا
« مطیع‌الله پیرخیل »

آرام زده په عشق کښې نشته سرله سره    خوب محال په هغه ځکه چه توده شی
« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی باندې شوی    هغه زړونه گویا کانی د بېدیا دی
« ملا جمعه »

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزلیات

که خوك یار په جهان غواړی یار دی دا
یار دی دا که دجهان سنګار دی دا

خیال دز افوېی زما له زړه چا پېر شو
که تر ګنجه چا پېر شوی مار دی دا

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جملو ؤ مخلو قا تو پلا ر دی دا

تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته
تر همه کا رونو غوره کار دی دا

بل بلبل به د ګل توم ا خستی نه ؤ
که خبروی چه ګل نه دی خار دی دا

بیا را تله و دی جهان ته بل وار نشته
بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا

د حباب عمر دي وګوری چه څه دی
که خوك شمار کاندی دعمرشماردی دا

د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره
ستا په عشق کښې هسی خوار زاردی دا

« عبدالرحمن مهمند »

چه یې و لید و ستا حسن بې حساب
له دي قصده تاو پیدا شو د آفتاب

په آرزو یې د نرګس ستر ګی خلور شوي
غنچه سره دزړه په وینو شوه غرقاب

ستا په غم مې دوا ړه ستر ګي سري ناغي شوي
که خیمی د ی سیاه پوشې سره طناب

که دي زلفي په مخ پیچ وتاب شوي شایې
وینته څه طا قت لر ی د اور له تاب

در حمان بخت به هله له خوبه ویښ شي
که ستر ګي ورته پورته کړي له خواب

« عبدالرحمن مهمند »

که ساقی تلخه با ده د ر یا ی شور کا
د فلك په جام په مست کله مخمور کا

آرا سته وی تل محفل د خند ه ر و یو
زمانه‌به د ګل جام څرنګ نسکور کا

چه‌په لاس کښې یې تل چوب لکه شانه وی
بی افسونه به نیو ل د تور منګور کا

د لتنګی کړم لکه ګل په خندا ور که
که مې بل دصبا باد په خونه اور کا

چه په سر یې سبز آسمان زری دستار ږدی
عا قبت یې لکه شمع بیا سر تور کا

لکه ګل کړی ګران بار تر دا منځی
باد دي څه لکه غبار په کتف سور کا

« کاظم خان شیدا»

که ښکا ره زما خا طر د لاله داغ کا
په ژړا به ستر ګي سري د ګلو باغ کا

د حباب غوند ې مې دك په آه سرد کړ
خوك زما په ګور به بل څرنګ چراغ کا

افرو خته یې و ی محفل په شان دشمع
چه سوخته دبل‌په کار کښې‌خپل‌دماغ کا

د ګر دش نو بت یې هیڅ په ما د ا نشی
که سا قی د ز مانې ، فلك ا یاغ کا

زنګ که هر کله «شیدا» دتیغ جوهر خوری
دمګس په بال به څرنګ استفراغ کا

« کاظم خان شیدا»

چه مې ولید ه ا برو په مخ دیار کږ
له تعظیمه ور ته زه شوم په تلوار کږ

کنږې ورو ځی کوږ با نه کنږې یې ز لفی
مناسب دی له کنږو سره رفتار کږ

مار په دا سبب مدام کږ فتا ری کا
چه یې ولید ه دا ستا د زلفو مار کږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هسې ژړا خلی اتر له همنشینه
چه معمار ئې اول خښته کږه کېښېږدي
ژړبه وا چوی یار دار چار پای په خاکښې
هېڅ جواب د پیغام نه راځی دیار ه

په سبب د کنږې پښې شې سم بازار کږ
بیا ترسره پوري ځی هغه دیوار کږ
که يې یو ځله څوك وځکوی مهار کږ
پسې زما شوه تورلیمه په انتظار کږ
« شمس الدين كاكړ »

خوږ ژوندون راپوري هسې کړهجران تریخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد وه دی
په وصلت کښې له رقیبه نه خلاصېږم
می حرام دی په مجلس کښې چه یارنه دی
چه می نوم ستا د هجران په ژبه واخیست
که فرهاد ته شیرین غم د شیرینی دی

لکه حال وی پر بند پانوړد زندان تریخ
پرسبزه باندې تا وخته وی باران تریخ
پرموسم د ګل اوقات شی د باغبان تریخ
بې له ګله وبلبل ته شی بوستان تریخ
لا تر اوسه می په هغه دی دهان تریخ
داستا غم کړ شیرین عمر پرحنان تریخ
« د مرزا حنان »

چه مې یار ولید په سیمه د اغیار ګډه
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دی
په امید د زلفو و نښتم په دام کښې
دديدن په ګدائی کښې مې ننګ نه شی
د وفا د ګلو بیا نه پکښې نشته
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم

له غیرته می لیمه شوه په خو نبار ګډه
خدای دنه کا مبتګیر کڅ په لاله زار ګډه
رو هیلی وم ساده دل په هندو یار ګډه
د رو یږ ګریم د بتا نو په بازار ګډه
کاشکې نه وی زه ددهر په ګلزار ګډه
چه په کلی په کوڅه شوم د خپل یار ګډه
« عبدالرحمن مهمند »

دا تور خط راغی په مخ د ګلعذار
سپین رخسار یې په تورخط کښې هسې پټ شو
زما نه به بې سپین مخ دا هسې تور کا
هر کارساز نن په خپل کار کښې درمانده دی

که غالب شوه په کشمیر باندې کفار
لکه پټه چه معنی وی په اشعار
چه غرض اری د بل په کا رو بار
او به کله وړای شی ګرځ د خپل رخسار
« شمس الدين كاكړ »

او ښو د فراق دستر ګو خواب را څخه يووړه
رنګ په رنګ ژړا کړم لکه نی دیار لغمه
نه مې را برسېره کړ ګوهر د عشق له بحره
تل چه یې هوس کاندی سره لاس وخونریزی ته
یو طرف ساقی شو بل طرف شو جام دمیو
وا چولم یار د جدائی په سره دیګ کښې
هېڅ یې نظر و نه کړ زما و خاکساری ته
سینه خوله د یار چه په خواست زه شمس الدين غواړم

کور زما د صبر دې سیلاب را څخه يووړه
زړه مې په یوه نفس احباب را څخه يووړه
زيات یې لا آرام لکه حباب را څخه يووړه
سرې د هغو ستر ګو قصاب را څخه يووړه
عقل یې له میانه په شراب را څخه يووړه
روح یې زما دځان لکه ګلاب را څخه يووړه
زړه مې سیا چشمو په شتاب را څخه يووړه
خواست د هرې ورځې د مخ آب را څخه يووړه
« شمس الدين كاكړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما زړه گوره چا یووړ    په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه دی شوبی ارامه    چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم    زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر گو    سیلا بو د ژړا یووړ
خه بازار چه مي د زړه ؤ    حسن ستاحسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ    ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نه کړم    زړه بېپوا کښه شها یووړ
قراری دزړه مي نشته    بېقرار زلفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادی کا    احمد غم دا شنا یووړ «احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افګار ساتم همیش    مسي په سینه کښې گویا مار ساتم همیش
زلفي دي سنبل مخ د گلاب ستر گي نرګس دي    زه باندي باغبان یم داګلزار ساتم همیش
داله تلو سي نه چه پرقلب مي پرزو نه شي    ځکه په ځیگر کښي ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر ښزی چه مجلس لره ور درومم    پس له دي به زه نور ځان کنار ساتم همیش
عکس درخسارچه دي زما په زړه کښي گرزی    زه په خیل ځیگر کښي سورا نګار ساتم همیش
زړه مي ستا له غمه همیشه آه و فغان کا    زه په خیل وجود کښي دا بیمار ساتم همیش
ستر گي مي ځلور شي ستا پر خواچه وعده و کړي    زه حنان له غیرو دا ستالار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کښي    دایي غابن په خوله کښي زیب کا که ژاله شوه په لاله کښي
مسي رنګ سحرو جادو کا په نظر د شهلا ستر گو    نه یي سیال په هند کښي شته دی نه ثاني په بنګاله کښي
لکه ونښلی مرغي په سست دام د سلو لومو    مسي زه پسر ښشانو زلفو کښي یستم په کشاله کښي
دازما له غمه ښین زړه یکښي خیال د یار دلبو    مسي رنګ زیب وزینت کا لکه مي به شنه پیاله کښي
ما ویل عین گن گل دی دغنچي په لمن لغښتي    که مي کوت یو گل اندام وپروت په سبزه دوشاله کښي
شکلی مخ کا ولي ناسته ، په مجلس د رقیبانو    په جوار دسپو کښي نه وی هیڅ ارام په غزاله کښي
سرتر پایه تیغ دهجر لکه نی سوری سوری کړم    ځکه یم مدام دامسي په فریادو په ناله کښي
که یار غوادي هومره ژاړه خودرځی عبدالحمیده!    دایه دا چه درمونده شي په دریاب نه په ناله کښي
« عبدالحمید مهمند »

زه دامسي دیوا نه او مجنون چا کړم    له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهېږم چه دامسي چاري خوك كا    لیونی د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومي ستر گي کوم بانړه کومه غمزه ده    دوب شهید غوندي په خاکه اویه خون چا کړم
توان توفیق چه دفتنو را خخه نه ؤ    په فتني د تورو ستر گو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم    چه دا مسي رنګه زبون او محزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند »

زه دیدار په دردوغم کښي شاد مان یم    لکه ګل دبر ښشانی په وخت خندان یم
نه زما و بېکسی ته نظر مکړه    خدای ساتلی لکه ګنج په بیا بان یم
لکه ونه د ځنګل په مېوه پوره    په ویرا نه ویرا نی کښي ابا دان یم
پور ښتنه مي دصورت بی عشقه نه دی    څوکیدار په هر نفس دخپل کار وان یم

دو صال مارغه داو ښو دا نه را کړه      لکه لعل ودر په غاړه د خوبان یم
د کاملي عقیدې لـه بـره کښته      دروهی په غاړه ناست شاه جهان یم
روښنائی مي په طلب کښي شوه حاصله      شپه اوورځ لکه آفتاب په لار روان یم
چه صفت دتو رو زلفو د اشنا کړم      بلی ، سر په لو یه لار د هندو ستان یم
بی مینه می هیڅ حال د صورت نشته      لکه بې مال ومتاعه تش د کان یم
دهوس بلبل ویسا را با ندې نه کا      دافلاس په کښل بـو تـی د خزان یـم
دلبرانو ته خاك تر تـلـی لا نـدې      د دې نور جهان په سر لکه اسمان یم
چه دیـار پـه دیدن سرو مال ښندمه      خلقو واوری زه هغه عبدالرحمان یم
«عبدالرحمان مهمند»

زه دیار په درو غم کښی غرقاب خوښ یم      په داور کښي بیطاقته بیتاب خوښ یم
تر داپوچی گفتگوی چه زه یې اورم      په نغمه په ترانه د رباب خوښ یـم
چه دیار دخط وخال ښی پکښي وی      زورند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
د ریا تـر نـا قـبو لـه عبا د تـه      دساقی په میومست او خراب خوښ یم
چـه نـه علم نه تسبیح نه تـلا وت وی      له دې هسې بیداری نه په خواب خوښ یم
دطوبی دونی سوری مې خوښ نه دی      ستا دمخ په لمبو سوی کباب خوښ یم
خا موشی که هر خو لـو یه مرتبه ده      زه دیار سره په سوال وخوب خوښ یم
دیار دهري غمخوری یـم عـاجز کړی      رحمان ځکه په خوردن دشراب خوښ یم
«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه یم      هم په دا ښو دبد انو تـو ز لېمه یـم
له هغو مې څه اندوه چې په خوی اوردی      په خپل خوی کښي سوړ اونرم تراوبه یم
چه وماته وزما عیب پښکښی را وړی      ددی هسی یار له خدا یه په غو ښته یم
نور زما دی ، نار زما دنو رو څه دی      دیتنگوغوندې مـخ خیر دځان په سوه یم
په ایرو یې مخ سپیره شی چه نفاق کا      آینې غو ندې مخ سپینه تور په زړه یم
چیری نه وی چه به بل مخ وته گوری      په هجران کښې خوښ دستر گو په واته یم
له نور چا کله گله عبد القادر کړم      زه خوار کړی خپلو ستر گو یم خپل زړه یم
«عبدالقادر ختك»

مخ دې لکه نمر دې ورته ځیر کتلی نه شم      ځکه یې دمدحې تر عهده وتلی نه شم
زړه یې راغلبیل کړ دهجران په ناو کیو      راز پکښې دیار د محبت ساتلی نه شم
اوس مې په معنو کښې ښه مین دستر گو کسی      کسی به د خلقو په ویـل ایستلی نه شم

زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم
بند یې د حواس په پنجره زه عبدالقادر کړم

بې یې د زلفینو د رسی ختلی نه شم
زړه مې پرواز غواړي وایې الو تلی نه شم
«عبدالقادر ختک»

د خپل یار له مینې هسې ډیوا نه یم
که بې آهه بې ناڅي بې ږغه سوزم
دخال خیال یې ما ضعیف لره کافي دی
چه یې خیال ساتم د سرولبو په زړه کښې

چه خبر نه یه کعبه یه بتخانه یم
پر څراغ د مخ یې څنګه پروانه یم
د مینې په دود قانع په لږ دانه یم
دا په دا مدام د لعلو خزانه یم
« مرزا حنان »

په جنت نه یم خوښ هر ګز په درد یار مې قسم
زړه مې له تا وعده د وصل هر ګز و نه لیده
پر وایه ګل ویه خار نه کړم د جنون له قبضه
که مې سرو لاړ شی ستا په مینه لا خوشحاله یم زه
تور بخت مې و نه لیده هیڅ ستا د کتا کل شب قدر
ستا د ګلګون رخساره شرقه زه حنان دا وښو

خوښ په لذت یم د خوارۍ په اعتبار مې قسم
په نا امیدۍ د تورې شپې د انتظار مې قسم
په سینه صافه آئینه د نو بهار مې قسم
په تېره تیغ د استاد جور جوهردار مې قسم
په تورو مینګو ستا د زلفو په هر تار مې قسم
ګلان کړم هره ګړۍ په لاله زار مې قسم
« مرزا حنان »

زه چه مین د یار پر مخ یم نوبهار څه کوم
چه وعده و کړې د هغتی ترمیان کړې تېر ګلونه
رضا د ځان مې په رضا د خپل اشنا ور کړې
چه مې زړه وړی په منګوله هغه یار دی زما
که د وصال په هوا را شی یکشتنها دلبره

تماشه بې د یاره مخه د ګلزار څه کوم
بې له وصاله تش د خولې خالی اقرار څه کوم
دا که مې قول د یار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
نور حسن داره بې له ده د قند هار څه کوم
نور منتونه زه جمعه به د ربار څه کوم
« جمعه بار ګزی »

سپین رخسار دې وای سپین صبا شو قم
د صبا او د بیګا تر منځ حیران یم
سبر یندې څوندې قی کړی ګو لمې نا ست یم
ګنجینه شوم ستا د مینې له دو لته
چه میرا در سره نه وی قلندر ره !
قلندر په کومه یوزه لاړ شی صوات له
د میرا صاحب له جوره قلندر ره !

تور کتا کل دې وای تور ه شیه د تم
نه یو هېږم چه عمل و کړم یه کم
د هجران لاس مې و کاږی ژړوبم
اژ د هار را باندې ګرزی دمبدم
ته چه صوات لره ورځې عذر دی کم
چه میرا یې همراه نه وی هوس کم
دا یو ، لاړو ، السلام علیکم
« قلندر »

مغنی ګوتې په تخیر ږدی په بم هم
ستا د عشق د غشی هسې ځای پرهار دی
ستا د زلفو مار چیچلی نه رغیږی
تا چه مخ ورته ښکاره کړو لیونی شو
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی
د خوښۍ پیاله په لاس کښې نن زما ده

هم ساقی شته هم بهار و صنم هم
چه ریښه پرې ایښوداې نشی مرهم هم
په ستا تو به زیار تو نو په دم هم
پاس د غرو نو په سر ګرزی په سم هم
زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

په لذت دې دسروشونو کوثر هیڅ کړ
د یوه لاس نغاره دا سې آ واز کا
که ناستي دیار کوی په خاورو مو مي

د شبنم دانه که تخم شي د ګلو
چه یې نشه لکه ګل ښه رخسارو نه
حال دسوی طالع څه بیان کړم چاته
معطل په عارضه د شام غریب دی
داسمان په شان یې تیز دفتنو تیغ کړ

پسرلی مې دخزان په تالار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاورې په سر اونم
لا مې غټ ور ته په خیر کتلی نه وو
لکه ډېر ډېری پیکر هم پرې رو وو
یوه ورځ به دا غنم و شي عابغا نه

بې اختیاره راښکاره زونډون زبون شو
چه دعشق په مکتب ماد غم داستان اوست
دقلم په دود به چا که سینه ټوی کړم
دحسرت ګوتې به غابښ کړي طبیبانو

سور پېزوان د په سروشونه وهسی زبر کا
دسرو ټیک دشهزاده په جبین پروت دی
دواړه لیچې دې وښکلې مصری نورې
ستاله غمه به ځان زده در حمان سوزی

پارسائي یې د پارسا له لاسه یووړه
چه مې کړې وه توبه له مې خواري
معجزه چه د احیاده په دوه لب یې
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتې دا یوه مسلماني وه
ماوې زه به دعشق راز لرم په زړه کښې
چه دزړه صبر دیار له سخه غوا ړم
که دنورو هوښیاري په عشق کښې بس وه ی

د حیات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دی دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټک »

زړه به سوړ په دیدن نشي د بلبلو
څوک به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبین دی د داغلو
که مې زړه په حلقه بندشو د کاکلو
صبح وشام ګرزي ښکاره په سرو منګلو
« کاظم خان شیدا »

مالا ګل بوی کړی نه ؤ بهار تېر شو
په هیڅ رنګ په ېرته نه رازی وار تېر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تېز روړی وار تېر شو
چه فلانی هم لکه ګرد و غبار تېر شو
« علیخان خټک »

اشتیاق مې دزړه مرګ وته افزون شو
هک حیران راته فرهاد دویم مجنون شو
دمرجان په طور وینې مې لړون شو
له قانون اوله شفی رنځ بېرون شو
« حمد »

لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو
شینکی خال دې محاصل په بند یوانو
در پوه بزم سر به پر کړي دخوارانو
لکه شمعه په زیارت د شهیدانو
« عبدالرحمان مهمند »

دانائي یې د دانا له لاسه یو وړه
په چشمانو یې زما له لاسه یو وړه
لاس یه لاس دمسیحا له لاسه یووړه
دا دعوی یې دهرچا له لاسه یووړه
دا مې هم هغه ترسا له لاسه یووړه
دا خبره مې ژړا له لاسه یووړه
محبت مې دا دعا له لاسه یو وړه
دخوشحال یې لا په خوا له لاسه یووړه
« خوشحال خټک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د زړه سختي مې سر تر پایه ولید نه
نور ه دنیا نشته چه څه وه را څخه خلقه
یار مې هغه وخت وي چه په شیشه په سره ناست وو
گل چه شگفته شي عندلیب بانډي ناري کا
تل گونه وهلې هر زمان ساړه اهو نه
سري لمبې بې بلې د خوشحال خټك په زړه کړې

سنگ به سینه دوړ کړی ستاله هسې سخته دله
وار په وار مې واړه په دلبرو و ښند له
شمعې به ژړا کړه صراحی به خند پړ له
نشته یوه ښکلې چه ړ ي و بو لم بېد له
ما چه عاشقي کړه خود په ما به دا کېږه له
سور خت یې اغوستي په دا لاري تېر بدله
«خوشحال خټك»

مست یم مې پرست یم رندي کړمه کړمه کړمه
نور شراب مې واړه تور عالم وته بخښلي
موړ به څښي نه شم زه د مېو مستسقي یم
لار د محبت زه تل به روغ سلامت نه وم
څه وایې وماته حال دڅه بېهجران کښې
خلق راته وایي رنگ دي بیا زیړ شو عاشق شوي
دورد عاشق دادي چه په عشق کښې ملامت وي

واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
لام و نی مې محادلي پسې مرمه مرمه مرمه!
تل که هسې د کې پیالې څښمه څښمه څښمه !
زه چه په دا هسې لاري تلمه تلمه تلمه !
نور خبر دار نه یم پهزړه سومه سومه سومه !
هیڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شومه !
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال خټك»

توره چه تېره سړی خو گذاره اره کښه !
ولې راته وایي چه په ښکلو نظر مکړه
شیخ دې نو نسخ روژه کا زه به د کې پیالې اخلم
نا وې چه زما د خولې بوسه اکه دا روده
وینې مې دزړه خوري مگر نور څه لره نه دی
څه ژړا فریاد کړې دښمې د تورو زلفو
خو د به ستا دمخه د گیاه غوندې خر کندشي
مې شته چنگ وني شته د خېل یار سره خوشحاله؟

زلفي چه ول ول شي خو خپل یاره اره کښه !
سترگې چه پیدا دي خو دیدار لره کښه !
هر سري پیدا دي خپل خپل کار اره کښه!
غواړم دا دارو د زړه پر هار لره کښه !
زړه زما پیدا دی تا خونخواره اره کښه !
نور تلې پخپله دی ښا مار اره کښه !
گل دلاله را وړه خپل رخسار اره کښه !
خپل باض په لاس کښې ځه گلزار اره کښه!
«خوشحال خټك»

اکه مخ زما د ساز دی نمر خوهسې وی کښه!
دعالم د بري خبري اور به اور توري لښکر یي
بی دعشق له شور وشره چه هر گز زما له سره
چه یې ریم عمل لا کا چه بې ورك كړې ځان پېد کا
تاوې درومه اوم مې زبر کړه بل سبق له زړه پار کړه
وهغه نه مې سر کوزدی چه معلوم ورته رموز دی
چه آزاد مربي وردومې خپل مرادور ځنې موې
په یوه زمان ت یار دورشي راشي خو گذاره

لکه زه په عشق کښې زبرېم زیږ خو هسې وی کښه!
زړه مې نه خوځي له ځایه غر خو هسې وی کښه!
نه ځي نور څه هر څه درومي سر خو هسې وی کښه!
ورځ دښپه داهسې کړ کړه کړ خو هسې وی کښه !
تل مې نه یې بهخاطر کښې زبر خو هسې وی کښه!
په خبره نه پوهېږي خر خو هسې وي کښه !
په هیڅ نه دی تړلی ور خو هسې وی کښه !
دخوشحال خاطر تېز بردی پر خو هسې وی کښه!
«خوشحال خټك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وفا خبر پیدا ران دی بیل خوا دروهی — دا متاع د زمانی په دکان نشته
مگر ځان وسپاری خدای ته په امان شی — گنه بیل خوا ته د هیچا امان نشته
هغه یار به زه و کومی خوا ته غواړم — چه یی هیچیرې منزل او مکان نشته
دلبران که هر څو ډیر دی په جهان کښې — زما یار غوندې د لبر په جهان نشته
چه هم قد لری هم زلفې هم سرې شونډې — دغه هسې رنگ آفتاب په آسمان نشته
عشق عاشق لره یو هسې گلستان دی — چه وباغ و ته یی لار د خزان نشته
که مجنون غوندې په عشق کښې څوك صادق شی — د لیلی په در وازه کښې دربان نشته
دا نایان به د رحمان په قال پوهیږی — داته کار د هر نا اهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

ستا به مخ کښې چه حساب د جمال نشته — ځکه ما څخه د صبر مجال نشته
ته د سرود مال وهره په ما مکره — وهره ما څخه د سر او د مال نشته
روښنائی می د چشمانو ستا دیدن دی — په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته
په جو یبار زما دستر گو سروته یی — په دا نهر باندی بل څه نهال نشته
مخ دې بی له خط و خاله هسې زیب کا — چه یی هیڅ حاجت په خط وپه خال نشته
ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی — چه په زړه کښې یی نور هیڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

گنج وعقل زار شه د عاشق د خاځکی او ښې — نه خر وار د عقل سه د عشق یوه دانه
تیغ دیار له لاسه په مری د عاشقانو — هسې لذت کا لکه د میو پیمانه
خدای لره به ورسم په سودا دیار له مخه — بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه
څه که زاهد زهد کادیو جنت دپاره — سر بښند لی نه شی په ور بل د جانانه
گوره د منصور هسې په دار نه شې رحمانه — مگره دا د عشق خبرې مې ستر رندانه
«عبدالرحمن مهمند»

په گلونو اواز ورو کوه بلبله ! — پر ښنا نه یږی ستا د شوره له غلغله
عقل وهوښ عزیز تر هر څه بښندل نه شی — ته یو څه رنگه ډیر گران یی د مل جله!
خدای دې په کاچیری چوخ بودې په بیهوشی — قدم ورو زده دراپیلو په گل گله !
ومطرب ته مینا وا یی وایه وایه ! — دا معنائی پیدا کیږی له قلقله !
صدقه یی هم تر پسل عبدالقادر شه — څه قدرت لری چه وایی له دل دله !
«عبدالقادر ختك»

وینځه که اصیله وی که توره وی که سپینه — کښلې شی له حور وچه پری ور شی د زړه مینه
شهد که څه نبات دی که شته شیرینی نورې — مینه که دې گورې چه تر هر څه ده شیرینه
خیال یی د زلفینو لکه مار ور باندی پروت دی — نه پریږدی وزړه ته بله مینه چه ور ځینه
سل زخمه که وخوری توی به یو څاڅکی پری نو لخی — هسی رنگه وچه د صورت کا مینه وینه
خرب به یی بدل په بیداری خوښی پری وپر شی — هر چه یی په زړه کښې د دلبرو مینه وینه
یار په هوا دندی که د زړه مینه پیدا کړی ! — مینه هسې خیز دی چه نه زدی لری کوینه
څه عبدالقادره ! په خوله مینه مینه وایی — خو دې لاو سچاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر ختك»

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه له خپله اشنا نه لری گډه     له نور چا به په نور څه لری گله
انگوری ترخه شراب ور اره بویه     میخواران له گبینه لری گله
چه بی تا یې غروم د بل و مخ ته     په دا خوی له ما نیمه لری گډه
هیڅ ایستادي بکښې ونکړتري بر بوت     له ناوکه یې مې زړه لری گله
چه جارو مې ستا د در د خاورونکړه     ډیر زما له ما بیا نه لری گله
بد و بدو ته ښکار بیږی ښه و ښه ته     ښه له بدو بد له ښه لری گله
ښه که سرؤ تری قربان عبدالقادر کړ     بیا تري ولې یار له د ه لری گله
«عبدالقادر ختک»

ننداره لره راځی چه پسی ځو نه     په اختر به ځلمی جونه کا سیلونه
ته به وایی مخ یې گل د پیغمبر شی     چه یې د په پسه مخ ووهی خالونه
چه په سیل د بهار د گلو گرځی     ځلمی گل به پگړی زدی په اوربل جونه
ځینی دواړه زلفې ډکی کا له گلو     خوك په غاړه د گلونو کا هارونه
زیر او سره نمری اغوستی گلرخانو     و ایی سبر و نې و نیول گلونه
چه گلو نه تولوی سندري وايي     شرمنده کا د بلبلو اوازونه
درست صحرا په خوشبوئی سره خوشبوی کا     په هغه ځمکه چه کیږدی قدمونه
چه له سیله را روانه شی و کورته     گل لمن ٠ بلبل یې نیسی آستینونه
چه له هسې ننداره نه ځان وباسي     شیخه ورك دي شه پیو څه خلوتونه
که لیدل د ښایسته ؤ بکښې نه وی     چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که اوازدی کهلیده د روح خوراك دی     نفسانی دي باندي نکیا غرضونه
تیر شو وار عبدالقادر ره ! را به نشی     که زړا کړي که فریاد کړی که آهونه
«عبدالقادر ختک»

څه افسون دي په ما و کړ پریزاده     چه پودم نه یم خالی د تا له یاده
زړه مې ډك لکه سپند دی شعله بویه     که د زړه په فراد و کړم څوفریاده
بهانه ددي غرض مگر شانه کړي     ته یی لاس وروړي و زلفوته شمشاده
چه اواز دي د تیشي په کهسار نشته     د شیرینې په طلب لاړي فرهاده
په اسباب کښې مې زړه بند په اسباب ندی     د چمن په قید سر و ده آزاده
مهیا ورته قفس د ښاخ د گلو کړه     که څه رحم په بلبل کوي صیاده
چه په هر منزل کښې سرخوری لکه شمع     د هغه لاري څه نفع د ه له زاده
په سختی کله امساك د دولت کیږی     جوهر نه ځی په هیڅ وخت له فولاده
همیشه یې پیچ و تاب لکه جوهر وی     چه شیدا راغی تر دا حیرت آباده
« کاظم خان شیدا»

زه چه مست په لب دیاریم هیڅ حاجت دشراب نشته     اوردعشق مې زړه کباب کړ وهیڅ حاجت د کباب نشته
تمام تن مې وچ لرگی شو ر گڅه مې تار دور باندې بربوت     زیر و بم اواز تري خیژی هیڅ حاجت درباب نشته
پر پرهار نمك پاشی کړی چه پرسش کړی له ما نه     حال مې خود ورته معلوم دی هیڅ حاجت د جواب نشته
لکه مرغ نیم بسمل یم تپش کړم په ځمکه باندې     ځان مې ور کړ ستا په عشق کښې هیڅ حاجت دقصاب نشته
«خوشحال شهید»

سحر دا آوازمي غوږ پوست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې پستلم گله !

ترمستي يې لا لذت د خمار ډېر دی
ستا د ستر گو مستي بده ده ترمله

ښا ښسته د زماني د نيا پرست وی
په کوڅه کښې يې بلمه کښېنږده بې بله

په چغلی مې ستا ؛ په يارمينه زياتېږی
څو دي زړه هومره چغلي کوه چغله !

ساقي مې چه را کوی يې به قهقه خانده
زده کړه دا د صراحي له قلقله

د ليدونکو په نظر کښې تفاوت وی
او که نه وی خبر جدا نه وی له کله

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شی
جمعيت مومی خاطر له توکله !

چه ستا مخورنه حاضروی گل به گوری
دغه ستر گی دي دخدای نکا بی گله

د مجلس روښنائی ته يې ته دی استېی
کوم نقصان دی که صبا کړه ډېوه گله

دا دنيا په مثال پل د آخرت دی
تېرشه زر عبدالقادره لدی پله

«عبدالقادر ختك»

سرو کـه ليده شی د چمن تازه تازه
ستا حسن ترې وينم ماه من تازه تازه

زلفې دی سنبل دی يا ښامار دی په چمنبو
يا دوا ده نافی دی دختن تازه تازه

گوره ستا له مينې زړه يې ټك دی وينې وينې
رحم کړه شيرينې په کوهکن تازه تازه

سار دی ښه مجلس دی ښه ياران دی سره جمع
وايه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

زه اول هم دېوانه وم ، دېوانه يم لا تراوسه
له دلداره همخانه وم ، همخانه يم لا تراوسه

له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم
د دلبر د مخ په شمع ، پروانه يم لا تراوسه

زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بيگانه وم
تر خلو ښتو کالو تېرشوم بيگانه يم لا تراوسه

چه عشق په جانانه شوم ، له اغيارو کرانه شوم
تور و ښتو مي د سر سپين شو ، کرانه يم لا تراوسه

چه داخل د يار په صف شوم ، د تهمت د تير هدف شوم
عام و خاص مې وائه ولی نښانه يم لا تراوسه

تل راضی يې په قضا وم ، هم صابر يې په بلا وم
عذر نلرم له حكمه ، بی بهانه يم لا تراوسه

د شيرين دلبر له لاسه ، ما شراب دعشق بی قياسه
څوبې حده مي ډېر وڅښه ، فرزانه يم لا تراوسه

دا فقير دولت يو مست يم ، د اشنا په مينه هست يم
په ازل مي شراب څښلی دېوانه يم لا تراوسه

«دولت لوانی»

ناست يم ستا له لاسه زړه يا ره سينه افگا ره
ته له مانه څه غواړي فلکه ستمگا ره

ته يو موش گيرك يې لايق نه يې د گلو نو
ولی بلبلان شړې کمبخته ! له گلزاره !

يار دي له ما بېل کړ تا څو هيڅ ښادی و نکړه
وايه څه دي وګټل رقيبه دل آزاره !

يو دي د هجران په تنا ره کښې لو غړن کړم
بل دي د رقيب سينه رايخه کړه دلداره !

هر یو ګل یې خار شي په لمن زما څو خېژي
نه چېنه د وفا طمع کوي له سر و قنده
غوڅ وي قلندر په تیغ د هجر کړی نیا زه!

سیر د ګلو نو چه کوم بې له خپل یاره
سروبه هیڅ لیده اې نه وي میوه داره
مه کوه میرا! نوره جفا درب دیاره!
« قلندر »

څوك چه ستا په مینه کښې وما ته کا پندونه
زده مې که نادان په لاس کښېومات لکه شیشه شو
او ښې دبا نو په سر چه را شي نه در ښېژي
نه شي څوك سا تلی سره بڅری په ګریوان کښې
نه دی چا مو ندلی ښاپېری په دو شا لو کښې

واږه بیفائدی زدی ابا سینه لره پندونه
نه شي څوك ایښو دای وشیشوته پیوندونه
ندی چا بند کړی په ګیا سره سیندونه
ومې سول یاه سره د صبر در مندونه
وا خله قلمند ره! په میرا پسې کندونه
« قلندر »

چه صبا یې په هر ګل بانـدې طواف کا
د پتنګ په دود د ځان په سو ور ضا یم
همیشه د ګل په بوی زه شمس الدین ځم
میل نکا را ته باز د یار د ستر ګو

زه هوس د هغه باغ لرم له شوقه
ځکه مینه پر څراغ لرم له شوقه
په خپل یار پسې سراغ لرم له شوقه
تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدین کاکړ»

خوښ له وصله نه شوم د هجران له غمه زه
خلق را ته وایې چه زحمت دې لاد وا دی
سر دې په جها نکښې د همه وا ړو ښا دیو
لوس به اه دې وروسته دخپل یار په غم اخته شم
غم دې له از له په نصیب د عاشقانو
ما عبدا لقادر چه دا غزل د فراق وي

نه کړم په ګل مینه دخزان له غمه زه
لا به چه یې خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دې شم بېغمه د جانان له غمه زه
ډېر په زړه زهیر شوم دجهان له غمه زه
ځکه ته خلا صیږم یو زمان له غمه زه
رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القادر خټك »

یو غوا ړم له یاره ښه دیدن تازه تازه
ځکه بلبلان چغار کوی په تازه ګلو
یو زمان له مـد حې د دلبرو مه در ښېزه
زړه چه در قیب ز ما په بد سره ښه کېږی
آه کوی له دله په فریاد له زیړ ګلمه
بل فکر مې نه کېږی بی ستا له ګفتګو یه
مه کړه په جفا سره آزار د بلبلا نو
ستر ګې مې خیره شوی چه ولاړ یې زه دې ګورم
زړه د یونس چوی ستا د هجر له سختی

بل در قیبا نو ځا نکندن تازه تازه
نه به مدام ګل وی نه چمن تازه تازه
تل دیاره وصفه کړه سخن تازه تازه
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
واوره له بلبله ښه ګفتن تازه تازه
شیر شکرې وایه له دهن تازه تازه
ښه خوبه وفا کړه انجمن تازه تازه
وکړه په دا لوری آمدن تازه تازه
ښه خوبه خپل مهر کړه غنچن تازه تازه
« یونس »

ښه مې و لیدل په سترګو واړه ښکلي — چې تر واړو لا تېرې کا جمال ستا دی
د دنیا په مخ به ډېر وي ښه مخونه — چې ترهر څه ډېر لذت کا وصال ستا دی
د واړه زلفې د حلقه کړي اکه لو مې — چې دانه دی په دا لومه کښې خال ستا دی
دوړه ښې ګلګونې سرې په دماغ درومې — ګوره بیا څو مره وګړی پایمال ستا دی
ته کشتن د غمزې کړه مه ودرېږه — مقتولا نو قبول کړې وبال ستا دی
که همه د خلقو ښکلي سره تول شي — خسته زړه مې په تولې کښې لېوال ستا دی
چې دې څوك په کوڅه تېر شي نور مېن شي — چې تمام له عشقه روغ دی دېوال ستا دی
که مثال د صورت غواړې ګوره میاشت ته — چې پوره د دوه هفتو شي مثال ستا دی
چې صبا بېګا یې لوند ارم په اوښو — یادګاري را څخه پاتې رومال ستا دی
څو ریبار در سره نه بیا یې دوړاندې — چې په چم به یې تېرېږي محال ستا دی
که په قهر یې شړې په لطف یې بولې — چې یې نه پرېږدي په هیڅ کښې خوشحال ستا دی

« خوشحال ختك »

مخ د یار شمس و قمر دری واړه یو دی — قدې سرو صنوبر دری واړه یو دی
حاجت نه لرم په شهد و په شکر و — لب د یار شهد و شکر دری واړه یو دی
که بې یاره په بستر د پاسه پروت یم — نارو خارو دا بستر دری واړه یو دی
چې و در او و د پو ار ته یې نظر کړم — باغ بوستان او دغه در دری واړه یو دی
چې غبار یې د کوڅې را باندې را شي — دا غبار مشك و عنبر دری واړه یو دی
خدای د یار له هجره هیڅوك خبر مکړه — تاخت و قتل و دا خبر دری واړه یو دی
هغه دم چې سړی د رومې له جهانه — تورې خاورې سیم و زر دری واړه یو دی
قلندر که په رښتیا قلندری کا — خان سلطان او قلندر دری واړه یو دی
په د کان د نابینا ؤ جوهریانو — خر مهرې لعل و ګوهر دری واړه یو دی
دا پیران دې عار زما له عشقه نکا — پاك عشق پیر و پدر دری واړه یو دی
په سبب د ظالمانو حاکمانو — ګور او کور و ښېښور دری واړه یو دی
غزا و شوه که خان ستانۍ ور حمان ته — بې هنر و ګاو خر دری واړه یو دی

« عبدالرحمن مهمند »

تور ګیسو د په چند ن باندې ښامار دی — تورې زلفې دی سنبل د نو بهار دی
تورې سترګې دې هوسۍ دي خطا شوي — چې و څرو ته پرتې په سنبل زار دی
تورې ورېځې دې لیندې باڼه دې غشي — عاشقان یې زخمي شوي په ګذار دی
مصفا تندی دې ښه دی تر بلور ه — بېدلان یې په سرونو خریدار دی
د غه خال چې دې دو رو څو په پیوند دی — د خطا د ملك اصلي نافې ترې جار دی
سپینه پوزه دې غوټې د زنبق د ه — چې چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی
ښا ګونښ د نسترن دي غوړېدلی — د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی
سپینه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم — د غنچې غوټې کله شکر بار دی
دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو — سپین غاښو نه بې بها در شهوار دی

ښاپسته زنه د سیب د سمرقند دی
چه خوا زه یی تر ښا تو نه بسیار دی
صراحی د سپینو ر رو سپینه غاړه
سیم اسا اوږې دې هم به د غه شمار دی
واړه تن دې د حلب تر ښیښی صاف دی
چه را ژونه دد رون تري نمودار دی
سپینی لیچې دې ښکلی مصری توری
چه خو نونه یی په غاړه سل هزار دی
د یاقوتو نیگینی دې سره نوکو نه
ځای په ځای دې په اوږو باندې قرار دی
چه مې ستا د تیو ښه ننداره وکړه
هغه کلک به لبذت ډك خوازه انار دی
د نامه غوټی دې گل ده د گلابو
کینړ اوښی د گلو پاڼې پرې انبار دی
د نامه نښکته دم و هلی نه شم
هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی
د پندو یو تر صفت دې نه ز سپنږم
ولې سپینې به سپینو الی تر چمتار دی
سپینی پښې دې د زنبق د گلو پاڼې
دپښو گوتې دې گلو نه دانار دی
تمام قد دې په مثال د صنوبر و نه
در پده یی سم په مثل د چینار دی
سر تر پا په ننداره بی ځان دې جوړ کړ
ترتا جار واړه رانمی د هند و بار دی
ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو
د لو بیا دا نه یوه مټر خروار دی
نه خو ډېر مهر کوی عمر دې ډېر ښه
دخوشحال ختك دې تش لیدل په کار دی

« خوشحال ختك »

عاشقی را باندې سوری کړې مری
هیڅ مې نه د رومی بې باره تر مری
څه اثر به یی د عقل وی په سر کښې
د هغو په سر چه کښېنې ښا پېری
د مژگانو په پنجه مې زړه وکاږی
خدای د تر کو مستې ستر گې کړې مرزی
علوفه به یی بهمنه نور څه نه وی
هر چه کاندې دخو بانو چا کری
لښر د صبر سبق ماله وهم را کړی
که په عشق کښې څوك دغه طاقت لری
خدایه څه دې د کوتوال په لاس کښې ورکړم
شپه او ورځ مې غنړ وی لکه تو ری
په صورت مې نری تبه شوه ولاړه
تاچه دوا ړه ستر گې تورې کړې نری
د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم
چه بنده ی شوم د هجران په کچری
نور د شمعې په فانوس کلمه پټېږی
تاچه وا غو ستې دخیال جامې نری
زه رحمان په زړه نری کړم هغه جونو
چه یی ملاوې د و بښته په د و د نری

« عبدالرحمان مهمند »

دا چه مست په میو راغی یار د چا دی
بیابه تاخت کا په کوم غولی وار دچا دی
چه زړه سوی یی د حرم په صید هم نشی
دا بید رده بیصر فې گز ار دچا دی
ما خو نه دی څوك بیو جهی ازار کړی
دا چه ما ازار وی ازار د چا دی
چه یی د رست جهان د مخ په رنما زیست کا
دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچا دی
چه بلبل یی رسېدی تر گلو نه شی
دا د ننه په حرم گلزار د چا دی
چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لری رحمانه
دا نا ترس او بی پروا گزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یی سر خم دی
یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی
که دې مخ په زلفو پټ دی باك یی نشته
د حیات اوبه همېښې په تورتم دی
ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو
پیدا شوی شام ، شفق او صبحدم دی
په د هن کښې دې غاښو نه تجلی کا
یا غوټی چه په غنچه کښې د شبنم دی

نه چه اوس ز ما زړه غوټ ستا په غمزو دی    چاره، غوښې له قدیم سره په غم دی
بې ژړا چا ته نه ګوري سیاچشمه    د نرګسو غوړیده د جوی په نم دی
راحت ندی چا موندلی بې زحمته    ستا جفا او وفا دواړه منقسم دی
ستا د حسن د تعریف له برکته    د رحمان د شعر کوکې په عالم دی
«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنګ بدیم ښکلیه! اعارولی له ما کړي    چارې د قسمت دی، زه یې زشت ته یې زیبا کړي
یو ځله بیا راشه په ګلونو ګذر وکړه!    ای د صبا باده! چه بیا غنچې واکړي
ګل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه    سرې دې له فراقه لاله سترګې پړدا کړي
ولی له شیدا بلبلی مخ جار باسی ګله!    ته په دا خوبې هم دده نار و رسوا کړي
لاخوشبوېي ورکا چه یې واچوی وا ورته    زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې
ته د حسن نمر یې دانو ښکلی لکه ستوري    ګل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې
«عبدالقادر ختك»

خوښ یم تر ابده د ساقی له میخانی    خورم شراب د مینې ډکې ډکې پیمانې
قدر د بلبل چه پاتی نه شو په ګلزار کښې    جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې
سپینو سترګو د راوښو واړل په خاورو    نه یې وساتلې په پښه کښې د ردانې
هر ساعت چه ډمه کا سنګار د یارد زلفو    وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانې
هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو    ورکې شه بیخایه د پښتون ډېرې ستانې
تل مې لیونی عوندی څوك نه پرهیزدی و کورته    ځای رالره نشته یې د یار له امتانې
هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه    څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې
مرګ د شمس الدین چه ددلبرد یاده نه ځی    شپه ورځ یې ترلی دی په ګوتو نښانې
«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنګ لیدلی دی    د زړه رخت مې په عشق رنګ لیدلی دی
اوس له ویرې په کوڅه ورتللی نه شم    ما د مستو سترګو جنګ لیدلی دی
غم و ښکلې توري راغی که مې پرهېزدی    ما خلاصی د ستا ترخنګ لیدلی دی
ما بېګا شپه د یار مخ لید لکه شمعه    دا خپل ځان مې پري پتنګ لیدلی دی
د ا مطیع په سحر ځکه ځکه ژاړی    چه خپل حال یې ډېر بد رنګ لیدلی دی
«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننګ لري کوی    تش دیدن د ښکلیو د زړه زنګ لري کوی
تل آرزو لرم چه به پته حال و یار ته وایم    ګله سپی غماز له یاره څنګ لري کوی
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بی ننګ دی    ځکه هر ملنګ له ځانه ننګ لري کوی
خدای په دواړو کونو هغه رونډ په تورلیمه کړه    څوك چه ستا له شمعی ما پتنګ لري کوی
یار مې په شړل ندی راضی زه یې پوهېږم    سپی غماز له دره ما په جنګ لري کوی
بس کړه ای ناصحه! تورځیګر را باندې مه خوره    ګله مست بنګی له ځانه بنګ لري کوی
بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مخه    عشق یوهسې رنګ دی چه بل رنګ لري کوی
«مطیع الله پیرخیل»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
گوره دا به ځان خونی تورمارا ره ورد رومي

مرم د خدای د پاره په شتاب شتاب رادرومه
چېرې هم طبیب ورو ورو بیمار لره وردرومي

ځم د یار په لوری په هواهوس خوښي کړم
ذوق کاندې بلبلې چه گلزار لره وردرومي

هر څوك چه طلب کا پته نده دا خبره
هر کله مطلوب و طلبگار لره ورد رومي

«خوشحال ختك»

خوږې شونډې دې شکرې ندی څه دی
بنکلې غابن دې مرغلرې ندی څه دی

چه تسخیر په تورو سترگو کا د زړونو
سپه چشمې سحر گرې ندی څه دی

چه د زلفو په زنځیر یې زمری بند کړل
هوسۍ سترگې زړوږې ندی څه دی

چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
بښتنې په قامت سترې ندی څه دی

وایې نورې مینې لرې کړه د زړه نه
ستا د مخ په دور لرې ندی څه دی

«خوشحال ختك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر ینزی
سترگې د ښو په درانه بارنه زهیر ینزی

څو کبر لوبی ده و خوبانو خدای ورکړی
هیڅېرې بې زړه به عاشق خوارنه زهیر ینزی

څه شو که ترې سلهځله ځار ینزی په ساعت کېښې
گل د بلبلانو په چغار نه زهیر ینزی

په رنگ یې بدرنگ کا چه پرې والوزی یو ځته
زړه د خزان گوره په بهار نه زهیر ینزی

گرانې دی هر گوره نوې چارې نو آموزته
هرچه مدام مې خوری په خمارنه زهیر ینزی

زردی چه خبر به شی د سترو له احواله
هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ینزی

سرغواړه له خدایه خولې ډېرې دی فاضله
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ینزی

«فاضل»

چه خدای په بتمین کړم که داعیب دی هم وی دی
سجود که روښن کړم که داعیب دی هم وی دی

عالم وایی عاشق شوې زه سوگند خورمه چه کله
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی

کافر یم که یې و باسم هغه ساعت له زړې
ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی

که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کېږدی
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی

چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیا رښتیاخبرو
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی

شیخان او زاهدان واړه په پسی شا ویل کا
په مخ یې مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی

که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کېښې
مستي یې په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی

«خوشحال ختك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې

اندرون گوگل مې درست دو ډنو ډك شو
ظاهری جامې اغوستې سپینې سپینې

بیا دې نوی بر ها رونه په ما روغ کړه
لرغونی مې لا روغ ندی ځینې ځینې

په ژوندون یې څه احسان را سره نکړه
څه پکار دی که یې کړی په مړینې مړینې

زه دې درست له باغه وا پستم د لبره
تورزاغان پکښې مېوې خوری خوړینې خوړینې

تو رو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه
د واړه گلو ښتی دی دمنکو چینې چینې

خماری سترگې دې د واړه شنه زمری دی
د خوا جه محمد و مرگ ته وړینې وړینې

«خوا جه محمد بنگښ»

نه به څوك بې ناچارى وطن پرېږدى
نه به روح هرګز په خوښه بدن پرېږدى

كه ستا مخ يو زلى ووينى په سترګو
بت پرست به نور سجود د وثن پرېږدى

د يوسف غوندې به خوځني پيرون كا
كه د زنې چاته زلفې رسن پرېږدى

كه دې وليدى سرې شونډى جوهريانو
په ياقوت پسى به تله د يمن پرېږدى

كه د لبر په دا ښايست لاړ شى چمن ته
د خولئى دعوى به ګل د چمن پرېږدى

« كامګار »

چه يوه ګړۍ په جمع زړه ښه مخ وته و ګورې
كه د رسته دنيا ستا شى هم څه نده دا ترپورې

دا خوى زما قديم دى څه ما اوس نه دى راوړى
چه بې د زيبا مخه را ته خس دى چار ي نورې

د خلقو تهمت يوسر د جهان غم نه بل سر
هم ته به مې لاهسې رنګه سختى بلا ژغورې !

دا اور چه په ما بل دى د خپل يار له جدائى
نه ګرم نه ملامت يم كه تل وينې ژاړم تورې

اشنا ته وايه نشى نا اشنا به څه خبر پېژى
دا راز چه لا ممانه دى اورېدلى خپلى مورې

ناوك يې د مژګانو دا برو په كمال جوړ كړ
خداى زده چه به د چا تر زړه ګى وزى پورى وورې

ښه باز دې د خوشحال خټك خاطر په لا سو كبوت
په قدرى خبر شه چېرې نه په ابزى پلورې !

« خوشحال خټك »

شنه خالونه چه د ياسه پر جبين زدي
دا زما پر زړه دا غونه آتشين زدي

د عشق اور مې ويلوى د زړه ګى شمع
بيهوده مې پر موم نقش د نګين زدي

ما دې خيال لره فرش كړى تور ليمه دى
ته بې نيازه قدم ولې پر زمين زدي

په شپه حال د مهجورانو په ياد راوړه
په راحت چه سر له نازه پر بالين زدي

« پير محمد كاكړ »

❀ ❀ ❀

# ه: موضوع ګانې

## (۱) ـ مخ:

باد يې لاس په پلو كښېښود ى سره ريبز دى
ګل يې مخ وته نظر كا خوله پرېښى دى

« خوشحال خټك »

د پرى ښكلى جوه ماليدلى دى په سترګو
ډوند شم كه به تا غوندې په حسن بله وه

زور د غاښو مكړه مخ يې صاف تر آئينې دى
زخم به پرې وشى په ورو ورو يې ښكلوه

عمر به يې لنډ شى كه ئې تار د زلفو كم شى
فهم كړه اى ډمې ! زمنځ ورو وروچلوه

« عبدالقادر خټك »

اى چه په مخ و ډې خو ئې له ور ده
خالى پو دم نه يم د ستا له در ده

ته يې آسيبه بهى ، سيب او سى
كه تر نارنج مې خپر ده زر ده

« عبدالقادر خټك »

كه مخ دې نمر كړم د نمر كړه ډېره نشته
كه يې سنبل كړم سنبل مشكين ندى

«عبدالقادر خټك»

د پر هوس لرم د ا ستا د مخ و ګل ته
زه بلبل پرې الوته كړم كه بد نه وډې

«شمس الدين كاكړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین رخسار دی ستا کعبه د عاشقانو
تور دې زلفې غلاف نه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ
که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
چه یې و لیدو دا ستا جوهر د غاښو
پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
له حیا دی غټ و مخ ته کتی نشم
کله لید په خوږو سترگو شی د نمر مخ
« قلندر »

دا دې یار خو دی، خو له نیولی
که لاله گل دی پر خپې و هلی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښونه
که لعل و در دی سره پیېلی
«خوشحال خټک»

ډېر مې ستا و مخ ته و کا ته موړ نشوم
نور به څو پردې نا بوده دنیا و یا دم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه !
په درست باغ کښې یو سرین هسې نه ري !
«خوشحال خټک»

مخ وته یې، گوره چه په مخ لری خال او نه
څه عجب ز یبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال خټک»

## (۲) شونډې او ژبه:

د خولې و یل دې و ا ړه نبات دی
خوا ږه دې لا د کنځلو ژبات دی
خوک یې چه ښکل کا سخ د هغو دی
شونډې دې دوا ړه آب حیات دی
«خوشحال خټک»

بوی به ستا د محبت ځنی روان شی
که یاره مې د نافې په دود تاتر کړې
په ناز کو شونډو یار د یا نو مه ژده
خدای چه شونډې سری بې پانو درته در کړې
«عبدالقادر خټک»

غنچه خوله چه یې نقطه مو هومه ده
څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم او به دی
دوا ړه ژیست کا په یو ځای کښې بې جداله
«دالپوری حافظ»

که څوک و وینی د استاذ نخ پر آب
ژړه یې و و ژ ی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وژړه ته تېر کړم
په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائی د یانو سرې دی
هغه شونډې څه حاجت لری و پان ته
«خوشحال خټک»

چه په خیال د سرو لبو د شپې خملم
هر سحر څا ځی ځما تر بستر و ینی
«عبدالله پوپلزی»

## (۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلی
ځوك مایوس ځوك په امید دیار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مینې سر گرم

گویا اخلی د یا غیانو قلنگو نه
ځوك پراته غاړه غړۍ په پالنگو نه
د غرخه غوندې په هسې ګړ سګو نه
«خوشحال خټك»

چه د یدن دمین و کړ مه تا زه شم
په ار مان د هغه و خت یم د ریغه د ریغه

لکه کښت چه په باران سره اوبه شی
که د زنې سبب یې بیا زما په خوله شی
«خوشحال خټك»

ځوك چه زور مه ښکاره کا وزیاتیږی

که پخیله بوسه را کا زور به نشی
«خوشحال خټك»

مګر تا سره سامان د سلطنت دی

چه په هوډ مې سپینه خوله غوالړي خټکه
«خوشحال خټك»

ځو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی

نو ر مې ګل له د له هېر دی تلذذ
«خوشحال خټك»

سر به در کړم مچه را کړه ښه سودا ده

که یې ته په بها پیرې زه یې پلورم
«خوشحال خټك»

په ر ښتیا ړ ما ته وو ایه طبیبه!
سپینه خوله که بې ریباره وزپیشکش کړم

چه د رنځ به یې صحتوی که به نه وی
په خوشحال به مې منت وی که به نه وی
«خوشحال خټك»

دادی هغه اوچه په هجران کښې پسی ته مرې

اوس یې په وصال کښې دوا ده لوریه ښکلوه
«خوشحال خټك»

دصبا باده! گزر په چمن بیا کړه
زه خوشحال کمزوری نه یم چه به دار کړم

په چمن کښې رنګا رنګ ګلونه وا کړه
په شکار ناري وهم چه خوله یې را کړه
«خوشحال خټك»

زړه مې تخمخ کېږی دسپین مخ وښکلول ته
زه چه ځنې سوال دبوسې وکړم راته خاندی

لاس یې لر بر کېږی دزلفینو ونیول ته
یا به زړه راضی ده یا بروانه کاوین ته
«مطیع الله پیرخیل»

چه یې تل دمخ ثنا وایی خوشحا له

په صله مې سپینه خوله درته بخښلې!
«خوشحال خټك»

دبوسې وعده دایم صبا برات کا

زړه به څو کاندې تازه په دا وینا کښې؟
«اشرف خان هجری»

بیا حانث په سپینه خوله شوم د خو با نو

قسمو نه مې نا صح ګنل عبث
«میا نعیم متی زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه

په څو زو یی د حلو ا نشته غرض
« یونس »

که هر ار لحله شیخی کوی خو شحا له

که ښه ښکلی درنژدی شی نو یې ښکل کړه
«خوشحال خټك»

## ٤ ـ ستر گی :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری ستر گي — هسی پري غو څېږم وایی توري لري ستر گي
یار مي په ښایست کښې بی نظیره بی مانندی — لا په درست صورت کښې ده پرمشهوری اری ستر گي
ناست دی لکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته — ځکه ستاله مخه هوري دوري لري ستر گي
هرچیرته چه ته یی هغه اورته می نظر دی — هرچرته چه زانی شاهین هوري لري ستر گي
« خوشحال خټك »

ما یی خیال لره ابلق د ستر گو زین کړ — قدم نښ دی په رکاب زما د ستر گو
« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی می دښو کړه تري چاپیره — گوندي خیال دیار په ستر گو کښې حصار کړم
« عبدالقادر خټك »

ځکه ما دعشق په تیر ځان شهید کړ — چه مي نه رسی د صبر په کفن لاس
مر گ دژوند زما پوښته له مړاؤ ستر گو — په رسا گذار یو هیښی د تور زن لاس
« عبدالحمید مهمند »

کښی وروځی کوژبانه چه دي را یاد شی — کاږه غشی مي تر زړه لوښی آزاد
« پیر محمد کاکړ »

نیمکښو دی د غمز و توري تېري ستا — پري به غوڅ شی هرچه کاندي ننداري
« میا نعیم متی زی »

باز دیار دستر گو دمژگانو په پنجو کښې — دی لکه تنزری په چنگ و ړی زما روح
« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو ستر گو په تعریف کښې — نه ده کمه شاعری له اجتهاده
« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري ستر گي خدای خونی کړي — گڼه خون کله کولی شی بیمار
« عبدالرحمان مهمند »

خپلو ستر گو فتوی در کړه چه مي وژنې — حیرانی ده پرداو ستو د مکتب ستا
و کوثر ته حاجت نه لری د ښېلو — چه جام نوش کا څوك دمیو لبالب ستا
« مرزا حنان »

زړه مي رم خوری له سینی پر خبر نه یم — دا د ستر گو باز مي بیا راغی وښکار نه
« مرزا حنان »

یل یی په جهان کښې مو ندی نشی — عاشق تله د یار په لوری په لیمه کا
« عبدالقادر خټك »

بی د یار له مړاوو ستر گو چه کج گوری — گڼه نکا رنځورا چاته جواب سخت
څوك د صبر ارام نه غواړی په عشق — د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت
« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و د شت شی — هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا
« پیر محمد کاکړ »

روهي گلو ته (٥٢٥) ـ سردار محمد، ج سراج الدين، ر فتح محمد، ن محمد نعيم، ه اجرائيه پښتو ټولنه ١٠ـ١١ ـ ٤٣٥

### ٥- غاښ

په آرزو د سپینې خولې یې په بوستان کښې — نرگس پیاس پر سر نیولی ده پیاله
چه یې ولید د خندا د سپینو غاښو — له شبنمه لمن ډکه کړه لاله
« شمس الدین کاکړ »

په رڼا د سپینو غاښو یې خرم وم — واقف نشوم د هجران د شب له دا چه
« پیر محمد کاکړ »

### ٦- غوز او پوزه :

دُر په غوز کښې د مهرویو هسې ذیب کا — لکه بر ښنې په سحار کښې ستار ه
« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو ځلا نگی په غوز کښې — کواکب کا په اسمان لرزان حبیب
« میا نعیم متی زی »

چه له غوز وئی مقصود د مومی لبنتي ده — چه له پوزې یې مراد مومی لونګ دی
« خوشحال خټک »

سپینه پوزه دې غوټۍ د زنبق ده — چه چاپیر ترې نور گلونه د گلزار دی
« خوشحال خټک »

### ٧- خال :

مخ وته یې ګوره چه په مخ لری خالونه — ښه عجب زیبا دی لکه ګل د پیغمبر
« خوشحال خټک »

زه حیران د اعتقاد وریځو په نور خال یم — کافر څه رنګ سجده کاندي په محراب کښې
ګل ددې ري باریکۍ په شبنم خوړ شي — نازک زړونه بد وي په صاف جواب کښې
« عبدالرحمان مهمند »

مشکین خال دې په سرولیو هسې زیب کا — لکه مهر په مخزن د در مرجانو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه او به شني کا — زړه مې شین شو ستا د شنه خال له لاجورده
« شمس الدین کاکړ »

چه ز خال و خط خبر ی یکښې نه وی — د عشاقو یکبار د ا ترانه نه ده
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبین ږدي — دا زما په زړه دا څونه آتشین ږدي
« پیر محمد کاکړ »

شینکی خال د وروځو منځ د مهر و یانو — هم محراب دی ؛ هم منبر دی هم خطیب
« میا نعیم متی زی »

زړه مې ځکه په سل ژبو گفتگوی کړی
چه شانه وهي په زلفو د نگار لاس
« عبدالله یوپلزی »

په لښکر د تورو زلفو یې تالا کړم
خدای دې نه کا حال کماڼ کفر د چا
« میا نعیم متی زی »

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښې
زر عوض نه کړه تر سنبل او سره گلاب
« میا نعیم متی زی »

ځانگړی پکښې زړونه د عاشقو سره په وینو
نه چه چیرې کیږدې سره گلونه په اوربل
« میا نعیم متی زی »

کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره
چه په څه ښانې تاوېږي وایمان ته
« خوشحال ختک »

که څوک وایي چه مار کله په کټ خیږي
زه خو ورځ لیدم په کټ د زلفو مار
« عبدالرحمان مهمند »

که اره لکه شانه شم پرې نه یې نږدې دم
که د تورو زلفو تار په لاس راکښیوت
« مرزا حنان »

تورې زلفې دې په لیچو باندې ځانگي
ښامار دې دچنډرو په ښا خوته
« خوشحال ختک »

دار بل په هر هر تار یې زړونه بند دي
مشاطه ور باندې نور یې په تارو
« خوشحال ختک »

که دد بدن حج اکبر کوی تلوار راوکه
چه پر سپین مخ باندې د زلفو تور اطلس لرم
« صدیق آخند زاده »

## ۸- زلفې:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندي
په زړه خوله لگوی مار د تورو زلفو
« عبدالرحمان مهمند »

رحمان ښتا په مخ بې څخنو وهم مینه دی
بېهوده مه د وړ ته کښېنسو دا ام په څه
« عبدالرحمان مهمند »

دک مې د نسه لږ مو ن په اور چیچو
زړه مستمند ر دی پکښې یې کور شو
چه ښتا د تورو زلفو په رنگ دی
له بخته خو ښ یم چه بخت مې تور شو
« عبدالقادر ختک »

په لیده یې پیچ وتاب شم نه پوهیږم
څه بلاده د شوخ چشمو په کاکل کښې
تر حلقو د زلفو مخ ئې معلوم میږی
که گلاب راته ښکاره شو په سنبل کښې
« مرزا حنان »

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم
چه سنبل ورته خجل دی گلاب هم لا
« پیر محمد کاکړ »

خو دپه خود یې کله زلفې په مخ ځانگي
واده زهر دی چه ځوزي په تور مار کښې
« پیر محمد کاکړ »

خیال دزلفو یې دزړه نه جدا کیږی — دې کیمې پوښ پښکېږه شي تور حجاب
«عبدالله یوپلزی»

## ۹- خندا:

په بار بار د خندا منت را باندی — چه په مادی نظر وشوپه خندا شوی
«خوشحال خټک»

کله کله یه خپل قهر لکښ مسیږی — لکه خوک په هندو بارکښ دینداري کا
«شمس الدین کاکړ»

تبسم یې له دشنامه سره زیب کا — قدر زیات لری ترخه چه شي شراب
«مرزا حنان»

## ۱۰- لاس:

د ا تحما د قاتل لاس دی نه یو هیږم — که تر باغ وتلی لاس دی د سرو گلو
«عبدالرحمان مهمند»

کوم دلبری زړه په سرو منگو لوټ ړی — چه لاس یې د وینو د کښې دی د حنا
«شمس الدین کاکړ»

سره نوکان دی د سرو گلو په څېر زیب کا — د واړه لاس چه دی رنګ کړی په حنا
«پیر محمد کاکړ»

## ۱۱- حسن:

ته په دا حسن د گل غوندی پیدا یې — پوری مور که بیا پیر ئی یې راوړی
«خوشحال خټک»

زه رحمان د هغه حسن تنا خوان یم — چه جر گه د عاشقانو وی پر پښه
«عبدالرحمان مهمند»

ستا دحسن د آفتاب له گرمه خو یه — لکه گل په نمن یت تازه شبنم ودم
«شمس الدین کاکړ»

پویکښ مخی د فند هار د کښلو نشته — کښلی د کشمیر که دلا هو رو د کابل
زړه دشمس الدین په حساب سره دری ځای کړ — پوطرف دي تیک شوبل دی ته بل چار گل
«شمس الدین کاکړ»

خو بړو نی یې دلبرئی څه په کارنده — لکه ونه بې میوی په بیا نو پور ه
«عبدالرحمان مهمند»

توری زلفی شته خالونه سره رخسار — شفه طوطیان دی سره گلونه تور ښامار
«یونس»

## ۱۲- جامه او گانه:

ارغوانی جامې یې واغوستې رحمانه — بیایې جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
«عبدالرحمان مهمند»

دعقیق د آب په رنگ یې تن معلوم دی — هره ورخ چه جامه واغوندی گلنار
«مرزا حنان»

نور د شمعې په فانوس کښې پټیږی — تاچه واغوستې دخیال جامې سوری
«عبدالرحمن مهمند»

درسته‌دي له‌خپل‌غریو واېستم خوشاله    یودغاړي هارمی د ګلونو مه‌شلوه
« خو شحا ل ختك »

## وښي

دله‌لال‌دی چه‌لېدل‌شی په‌شفق کښي    که‌په‌لاس د ګل‌اندامی سپین‌وښی‌دی
« عبدا لر حما ن مهمند »

## ۱۳- عیش، اودعشرت‌سامان:

دنیادار کړه چه نه‌وی ښي دلبري    اوردي پوري ددنیا په‌ملك ومال‌شی
ارمان دادي چه به زه همیشه نه‌وم    همیشه به‌سره ګلونه کال په کال‌شی
د ګلونو وخت تېرېږي ساقی! ګرم‌ېی    که دجام په د کولو دي اهمال شی
« خو شحال ختك »

❁ ❁ ❁

ساقی ! پورته شه‌دمېو جام تیار کړه    عمرهیڅ معطلی نه کوی تلوار کړه
که‌غمخوارغواړي‌په‌غم‌اوپه‌اندوه کښي    ښېښه د که د شرا بو اختیا ر کړه
هغه‌خوك دی‌چه‌تهمت پري وایه نه‌شی    غو ز په‌هیڅ‌ا با ندي‌مه‌با سه‌خپل کار کړه
« عبدالرحمن مهمند »

❁ ❁ ❁

خښه‌خښوه‌شراب‌ساقی! بیابه‌ارمان کړي    عندلیب ناري وهی چه‌بهار درومی
« عبدالقادر ختك »

❁ ❁ ❁

ساقی وخت دنوبهاردی شراب راوړه    دشرابو سره نقل دخولي مل کړه
« خو شحا ل ختك »

## رباب

په‌آواز مې‌ېی دزړه پرهار ګانه‌شی    مین ځکه د رباب په زیرو بم یم
« عبدالقادر ختك »

له مز ینه زړه مي نرم او از خېژی    ځکه‌خوښ ل‌ګه‌رباب په‌زیروبم‌یم
« عبد ا لقا د ر ختك »

باغ د ګلو نو ګنج د کتاب وا ی    رودوسرو دو نقل‌و شرا ب وای
ښې‌ښې محبو بی ښه ښه احباب وای    خو بی د عمر وخت د شباب وی
« خو شحا ل ختك »

## شراب

زمایار په‌خوب ویده دی چه‌وېښ نه‌شی    په‌پیاله کښې ساقی! مې‌تر یوه‌ورو
« عبد القا در ختك »

ګله ! ته چه د بلبلی مخ جار با سې    مګرستاپه‌خپل‌ښایست امیدمدام‌دی
نور چه تل د کې پیالې تشوی ښه‌دی    په‌یوه‌پیاله خوشحال‌ختك بدنام‌دی
« خو شحا ل ختك »

دا گلگون شراب د کومې میخانې دی
چه صوفي یې په جرعه سره مدهوش دی

بیا به دا گلونه نوی میخواری کړه
د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی

« خو شحال ختټك »

د رحمان شراب له عشقه
نه انگور نه له عنبه

« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو میو ناوې را سته نا سته
زنگاری کمیس اغوستی د مینا دی

« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو
وینم یکښې هردم د خوبانو انعکاس

« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کیږي
معطل مه کوه ساقي! په داد ومل شه

« عبدالقادر ختټك »

بو نفس دیاد پیاله له لاسه مه ږده
دا شراب حقیقي نه اری خمار هیڅ

« دو لت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی
چه یې کاږی له انگوره

« شیخ دولت »

ای ساقي د جام په ور کړه سستي مه کړه
کاشکې بوهم یا تې نشي هوښیار دریغه

« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

کیږ رنا د نمر خپره شوه
زما یر کور د ویر تاره شوه

د بیلتون وزړخ توره تیاره شوه
غیږ شونا څا په چه بیلتون راغی

زړه مې له دی ویرنی سین دی
په ژړا ژاړم خه ما ورین دی

زر غون له او ښو مې سا دین دی
په نول نولیږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیا یم نه به بیا را شی
نه به تیا ره شپه زما رنا شی

نه به شڅی را ته په خلا شی
بیلیږي پیر یې اوس دیوون راغی

❀ ❀ ❀

د ښبتن یار دی هیر مو نکړی
آ غلیه مخ چه په یا نه کړي

اور بل دې پر ښو وی وا ته کړي
په ما دبل اور کړوون راغی

« دا شعر دشیخ تمین بڼ کاکړ دی چه، د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

ویر مې زده سوری سوری کړ
را ته وگوره ملو کې ! !

په بیلتون کښې دې و باسم
له خوږ مینه زړه گی کوکی

را ته وگوره ملو کې !
را ته وگوره ملو کې !

د بېلتو ن او رو نـه بـل د ی　　هر گـړ ی مـې زړ گی سـو ځـی
لبو نی یمه د مینی　!　سـو ځـم ز ه لکـه پـیلـو ځـی
را تـه وگو ر ه ملو کی !
راتـه و گـوره ملـو کی !
غـو ږ و لـی د ی ا ور بـل د ی　　اور ز مـا پـه ز ړ گی بـل د ی
ز ه « بختیا ر خا وری ایر ی شو م　　پـه او ر سوی می گـو گـل د ی
را تـه و گـو ره ملو کی !
را تـه و گو ر ه ملو کی !
❀ ❀ ❀　　« قطب الدین بختیا ر »
« متوفی : ۳ ۳ ٦ ه »

جدائی دما په زړه کا هغه چاری　　لکه بازی په تارو یا پهدراج کا
دوه مین چه په هواد وبلـه بېل شی　　خدای یې څه شکل دتش سلام محتاج کا
زما اوښي د گو گل پهجوش پیدادی　　لـکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا لـه شسته خېژی　　زمانه دخوشحال زړهورتهامـاج کا
« خوشحال خټك »

کهداستا ستر گي راوجا رباسم څانته　　لهبنادیه پهبی نور شا کرم وجهان ته
یوزمان مې که داستالیدل نصیب شی　　نوربهستر گي یورتهنکړم گـلستان ته
طبیبان دخپل دارو درسره کېنږدی　　تا و یشتلی مینه نه کـا و درمان ته
چه پهما باندې تیر ېږی ستا پهعشق کښې　　خدای دې هسې حال پېښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه دېر ژاړم　　دوارهستر گي مې پیغور کـاویاران ته
« خوشحال خټك »

اوس یې درد د فراقت زغملای نشم　　لـکه نـی یـم وهرچاته په فغان کـړ
« پیر محمد کـا کړ »

دفراق پهدرد کښې شوق دبوسې څه کړم　　خو زشربت پهحال دمر گ د بیمار نښلی
« پیر محمد کـا کړ »

مو نـږ لـه هواده تـنها راغـلی یـو　　دبڼ طوطیان یو ، پهدام و تلی یو
غمازه ظلـم را بـانـدې مکـړه　　د ښـو یـارانـو فـراق نـتـلـی یـو
« پیر محمد کـا کړ »

دسحر چـر گه خوږ شې په کـومی　　چه تا نـارې کـړې دلبر مې دروم‌ی
یوم‌ې دلبرځی بـل رانه زړه وړی　　زړه مې پدا وړی چه دلبر نوم‌ی
« اخوند گـدا »

دهجران دغم راتله په توره شپهوی　　پهـهـر چاورمـشـه بیـوخـته مېلمـا نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ　　پهدریاب کښې نشتهـنمو نځ په تیبا نه
« شمس الدین کـا کړ »

وختدنوبهاردیزه جدا لـهخپله یاره　　دریغهدریغهدریغهچهبییاره ځی بهاره!
ژاړیغاړي غرونه پهاحوال دعاشقانو　　سیلدراورونديچهرادرومیله کهساره

اورد خوزو زړودی چه دغره په ونو بل شو
غوادی چه احوال د فراق چنودر معلوم شی
نورې نارې نشته خو نارې د بېلتانه دی
رنځ مې نه کمېږی په زمان زمان زیاتېږی
مرګ د رقیبانو بل ژوندون د حبیبانو
څه شو که لادم وهی په شمار دی دژوندیو
هسې خوار وزار شوم زخوشحال په عاشقکښې

سری ددوزی خېژی له نښتره له چیناره
گوره هغه زانې چه جدائی نحی له قطاره
راشه که بی اورې در باب له هره تاره
زر راحه طبیبه! گنه مرم د خدای د پاره
خدای زو به هنګام د وصل کېږی دادوه کاره
رنځ چه لا دوا شی طمع ېر ېکړه له بیماره
خیل دی که پردی دی راته نه گوری له هاره
« خوشحال ختک »

چه په وخت د تلو راتلو کاچیغار و نه
دهوا دیاران را یاد زانی اکثر کا
« عبد القادر ختک »

که هر څو دبېلتانه له غمه وایم
خپل ژوندون مې دروغجن کاندې چه بایم
په قد کوږ په تن ضعیف گوښه یولی
په مثال لکه ابرو د دلربا یم
« عبد القادر ختک »

له ښکیه وچاوده وخت د صبا شو
په هر مسجد کښې اذان اداشو
راشه چه ښکلدې کرم اوس به بېلېږو
په ځان زمونږه صبا بلا شو
« عبد القادر ختک »

مین را یاد شو داستا له رنګه
که یو د رنګ کښېنې زما تر خنګه
که اشنا نه یې داشنا مثال لرې
ځار شم قربان شم تر تا ملنګه!
« عبد القادر ختک »

وخت د سحر شو پر یوتې تلې
له کښېیه لوریه راو ختلې
د یار د راغلو وعده شوه تېره
په ډېر کتل مې سترګې وتلې
« عبد القادر ختک »

د منې وخت ؤ وې لید لې
یو څو بلبلې چه ژړېدلې
خوارې خسته وې وې مې سزایی
چه بې ګلونو ویاښېدلې
« عبد القادر ختک »

ورله د هجر پرما شرط مکره په عشقکښې
زهر چا خوړلی ندی په شرط و نه
« شمس الدین کاکړ »

دزړه وینې مې په کومه درشتې خورې
هغه شوندې چه په شهد وشکر خوږ شی
بېلتانه مې هډوپوست هسې وچ کلک کړه
دیار لاس مې په وهل دخنجر خوږ شی
« شمس الدین کاکړ »

د هند بار را نه آهسته وره!
یار مسافر دی د ربره بی ژ غوره
د سایې ګل ؤ په نازلوی شوی
وتلی نه دی هرګز له کوره
« شمس الدین کاکړ »

د هجران له ډېره غمه ولې نه مرم
له دې هسې رنګه ماتمه ولې نه مرم
چه یو یار له بله یاره جدا کېږی
د دې دهر له ستمه ولې نه مرم

چه په هر سحر زما په ژړا خاندی
له دي هسي صبحد مه ولي نه ...رم
چه په لبزه ګرمی شا کاندي وګل ته
له دي بیوفا شبنمه ولي نه مرم
« عبدالرحمان مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه په شپه دجدائی
درسته شپه بخو به دا سمان ستوری شمېری
« خوشحال ختک »

## کاغذ

مخ بی سپین ورق خالونه توری په کاغذ
سرو مال په دا عاشقان پلوری په کاغذ
دادی تماما د محبت کمال طور و نه
یار له جدائی چه یار ژ غوری په کاغذ
ته که نه رادرومي ګاهی ګاهی په خطیار کړه
نیم ملا قات و ینم ستا له لوری په کاغذ
مه کوه ناتر سه د جفا ستم را باندې
کله کله یاد کړه خیل غمخوری په کاغذ
وران به هرګز نه شی کښلي توری له ازله
هرزمانی که سترګي د چا اوری په کاغذ
ستوری د طالع هم له جبینه معلو مېږی
څه ګوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
مه ګوره بی خط قلندره د یا ر مخ ته
بی توروډ ندېږی چه څوك ګوری په کاغذ
« قلندر »

## ١٦ — ژړا

که ګریوان می دسپوږمی د نمر مشرق شی
زه چه یار په سترګو نه وینم تورتم وی
درحمان خندا په اجر دژړا ده
تازګی د ګل په قدر دشبنم وی
« عبدالرحمان مهمند »

ناخبر به ی له حاله شفق بولی
که دوینو په ژړلو کرم اسمان دوب
«عبدالرحمان مهمند»

بی دردان ئی لاس سرخی دشفق بولی
که په وینو کرم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدین کاکړ »

زه دشمعي په څېر ژاړم تر صباحه
ته د صبح په شان خاندي له غروره
« شمس الدین کاکړ »

له ژړامی شوه تازه دزړه داغونه
لکه تل چه شبنم اوری پر وښو
ځما دیار په زړه کښ جوروستم نشته
در وی ئی سپی رقیب را ته پرېښو
« شمس الدین کاکړ »

په سحر ژړا دیمنی نشا نه ده
بلبلانو پر ي لوولی ګواهی ده
که فریاد په زوره نکړم زړه می چوی
که په زوره ناري کړ مه رسوائی ده
« مطیع الله پیر خیل »

هرسحر سترګي د ګل له اوښودکی
په دا باغ کښ ئی ژړلو خندا نشته
« عبدالقادر ختك »

روهي ګلونه ( ٥٢٥ ) ب : سردارمحمد ، ع محمدعلي خان ، ر عبدالغني ، ن رجب علي ، ه اجرائیه پښتو ټولنه تاریخ ٧-١١-٣٥ ع

## ۱۷ ـ او ښکې :

څه اثر به زما او ښې په تا کاندې
لا تازه شی اور په او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره او ښې مې بهیږی په رخسار
چه غرقاب مې هم گرېوان دی هم کنار

په گرېوان مې تل د اوښو باران وری
نه ورکېږی در حسان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند »

خدای پیدا کړم لکه اوښکې په ماتم کښې
ځکه برخه مې ژړا شوه له السته
« شمس‌الدین کاکړ »

پیا کوم ستر گی په اوښو دیار مخ ته
ناروا دی په قران وهل خیچن لاس
« مطیع الله پیرخیل »

په ناولی مخ دیدن دښکلو نشی
چه ځوانند نشی د اوښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »

له حسرته خپلو او ښکو برسر پووم
محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپلزی »

دا ورك زړه غوادم په او ښو یسې لحظلم
زخمی ښکار به په ښل دو ینو پیدا کېږی
« میرزا حنان »

## ۱۸ ـ غم :

غم دې هسې غلبه شو په ما باندې
چه مې ځای شی نه دننه نه د باندې

له زگېروی نه مې نور خلق په عذاب شوه
تل دوچو له کبله سوزی تاندې

زه دستا په غم کښې شمعې غوندې ژاړم
ته زما په غم کښې صبح غوندې خاندې

زړه مې ستا په اوری هسې او بڼان دی
لکه زلفې دې په مخ دی او بڼا ندې

ما دې ستا دانه ښڼو په غم کښې سوې
د دنیا انند ښڼی واړه لکه سپاندې

داد ستور دی چه لوی غم په سړی ورشی
نور غمونه ئې همه شی تر پښو لاندې

هرچه ما په نصیحت له تا جار باسی
بیا دې ستا په اوری دروم له ماوراندې

سره لمبه گوره چه څه کا په وچ د کی
مخ دیار په رحمان هسې چارې کاندې
« عبدالرحمان مهمند »

هسې زه یمه دیار په غم تازه
لکه وی هره گیاه په نم تازه

ستر گی وخورم که نې وچې کړم له نه
که مې شی په دا ژړا صنم تازه

زه به څه کړم دچا چارې بی دیاره
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه

دیار نوی نوی غم زېږوی وصل
رغوی سوی پر هر مر هم تازه

که دې زړه له غمه وچوی دلگیر مه شه
کا تبان کړی په چول قلم تازه

ښایسته یاران گلونه دی رحمانه !
بیلتا نه کړه اکثر مړا وی کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم دبخت ورو له خاطره
قسمت هسي لهبنا دليو کناره کړم
« عبدالقادر خټك »

تل مطيع الله ځکه سرور په دودنغمي کا
دا مشهور متل دی فرياد غم پر ښنا نوی
« مطيع الله پير خيل »

غم ديار مې په خاطر کښې محکم بيا موند
په کعبه کښې مې صياد دحرم بيا موند
« پير محمد کاکړ »

جای نشين وغم ته تل په انتظار کښې
رکالا يا نوی بندی يم د انګريز
« عبدالله پوپلزی »

لاله افسوس کاد زړه له داغه
کفن ئي رنګه کړ دزړه په وينو
پسر چمن ندی خاطر فراغه
په ارمان ويست خزان له باغه
« شمس الدين کاکړ »

ګوتي چه پر نبض زماز دی ههپري سوځی
ځکه مې حيران شوو علاج و ته طبيت
« پير محمد کاکړ »

۱۹ ــ رقيب :

سپی رقيب ئي کښېنولی دی په مخکښ
هرڅوك زدی کوډی په مخکښ دباڼيز
« شمس الدين کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
بې هنره سپی رقيب هلته څه غوښت
ګنه زه څوك اشنائی د زور ورڅوك
که ويار ته رسېدای شوی په هنر څوك
« شمس الدين کاکړ »

د رقيب وسر ته وزی تېزی ناست يم
پري برئي نېزدم که ئي پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

مافبول د رقيب ناز کړ ستا دپاره
سودا وزيان په دا جهان کښي خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

۲۰ ــ جفا :

ستادعشق حرفونه تورنه دی ګلګون دی
تش به نه شی هغه خم دعشق له ميو
ددنيا چاري همه وا ړه فانی دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له ندی
در جمان دزړه خوناب مګر قبول شو
هم په داچه نوشته په جګر خون دی
چه ئي خاوري د فرها دو دمجنون دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
چه په سره کفن له مځکې رابېرون دی
چه مخونه د دلبرو پري ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خوبانو چه کوم دوفا طمعه
کتوری غوادم د زانو له قطاره
« قلندر »

نن مې پياله تورو ستر ګو سره جنګه دی
که پر ښکری سر په لاس ورلره راشم
پرلبانو ئي دزړه دوينو رنګه دی
لا په دائی باور نشی زړه ئي سنګ دی
« تيمور شاه ابدالی »

## ج : بدیعی تشبیه گانې

خوله دې گل غنچه ده تور گیسودې سنبل پانې — پښې ددی دزر کې سپینه غاړه دې دزانې

شونډې دې ژوندون بښي به ستر گو کړی خونه — ژ به دې شکرې ده د نښه به زړه پانې

هیڅ پری نه یو هیڅ مدا دې زنه که مخه ده — خال دې دی په رنه که دانه ده د ممانی

« خوشحال خټك »

کنده ولی د دواړو ستر گو ستا په طمعه — وهر لور ته می نیولی کور په کور دی

چه می خیال د ترکوو لید و په زړه کښ — دواړه کسی می وزړه و ته نسکور دی

« عبدالرحمان مهمند »

مایه خواست وزاری خوله له یاره غوښته — ده په ناز لکه غنچه سره و نغښته

شه خو حال زما تر غو زه د یار وروړه — چه مدام کا پرتا خواب د ناز بالښته

محبوبا پر پا انگ وا وښته په خوب کښ — که هوسئی ده د بهار پر گلو رغبته

ثمره د بد فرزند ښکنځل د پلار دی — پیدا مشه ناخلف د چا له پښه

« شمس الدین کاکړ »

چه له غنچه د گلرخ مې اغیار کښېناست — په چشمانو کښې می گل عوندې خار کښېناست

« پیر محمد کاکړ »

آهو چشم پر سبزه د چمن رام شو — یا پر تخت د زمرد شهر یار کښېناست

« پیر محمد کاکړ »

که عشاق جنگ وجدل کاباندې څه شوه — پر گلزار وی د بلبلو شر و شور

« پیر محمد کاکړ »

کوم یو له دوه ؤښه دی سپین رخسار که چنبیل گل — کوم یوله دوه ؤښه دی تور گیسو که سنبل گل

« پیر محمد کاکړ »

پر سینه د گلبدن گریوان پاره شو — د غنچې له چاکه رنگ د گل ښکاره شو

« پیر محمد کاکړ »

دا تور خط راغی پر مخ د گلعذار — که غالب شوه په کشمیر باندې کفار

« شمس الدین کاکړ »

چه مې ستا د مینې داغ په خاطر یوړ — زرغونه به مې لاله شی له تربته

« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړی البلونه شماری — یکښې پراته دی هزاران زړونه بلبیلي صنم

« میانعیم متی زی »

گوتې تورې کړې په بای کړې دا پورې — زه حیران یم ستا د سپینو گوتو تور ته

« خواجه محمد بنگښ »

زه دریسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع — ته صباخندان لکه گل واز گریوان دچاپی

« علیخان خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون ئې د تند رو ، در بده ئې دی د سرو      بېر کوی په بلهو کښې حمله ئې د سپاره ده
« علیخان ختك »

تماشا چه زه د خپل دا غو نو تـل کړم      هم گلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مر زا حنان »

د گلرخ په هوا در ستـه شپه ر فتـن کړم      د شبنم په څېر پښې پېلې سر سر تور تم
« شمس الد ین کا کړ »

او ښې در ، ر نـگ گهر با ز به ده لـکه لعل      جنس مې دهر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیا ل ته مې خالي کړ د ز ړه غو لی      مېلما نه لره تیا ر شی سرای د ستور دی
« مر زا حنان »

چه دې خیال په خا طر را شي مضطر ب شم      لـکه پېښ چه د مفلس کره مېما ن شی
« مر زا حنان »

چـه تا و وینم تا ز ه غز ل ا نشا کړ م      پرې بلبلې فریاد کاندی چه گلعذاروی
« خو شحال ختك »

پـر خپـل ځای با نـدې ولاړ یـم لـکه شمع      تـرفزل پـورې رفتـار کړم لـکه شمع
« شمس ا لـدین کا کړ »

وخـت دی راغـی دفـدا کـه فدا کېـږی      شـمعـه بلـه شوه تـازه پـتنـگـه خوځـه !
« جمعه بار گزی »

آفـریـن دې پـه ول ول تـورو سنبلـو      چـه ئې ځـای د پـا سـه وښـو پـه گـلـو
« خوشحال ختك »

## قبیـح او ملیـح

کـه یو ځـلـه ئې پـه سرور بـاندې کښېنې      رنـځ د هجـر بـه شـی د غـم د بیمـار
پـه مـدار مدار بـه ئې کـاږم چـه خوږ نه شی      د بـانو پـه ستنې ستـاد یو نـدې خـار
« شمس الـدین کـا کړ »

# دويم باب ـ اخلاق او نصايح

## الف : ښه خويونه

### ۱ ـ اخلاق

کە د رنګ خوبي ئې ستايې بوديې نښته
په جهان کښې که باقي دی خو اخلاق دی
«خوشحال خټك»

په خو يو نو کښې ډېر فرق دی
که سړی پرې خبردار شي
ځينې هسې خوی آغاز کا
چه خپل هم ځينې و بېزار شي
ځينې هسې خوی آغاز کا
چه پردی ئې خدمتګار شي
که څوك خپل خصلت ښه کا
تر سرو زرو به رو بېدار شي
«خوشحال خټك»

تنها د ګل شي له ښکليه بويه
صفت د مرد شي له نېکه خويه
اصل به نه کا ستاينه هيڅوري
د ګل له رنګه د مرد له رويه
«عبدالقادر خټك»

چه ګل همت ئې خوراك لباس وي
په تحقيق هغه ارذال الناس وي
شرف په خوی دی په ديانت دی
که څوك شريف وي يا څوك کناس وي
«عبدالقادر خټك»

په ښه خوی د سړي قدر قيمت کېږي
بد خصلت سړی يا ديو دی يا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وي ځني تښته !
بې هنر سړی که و ګوري لاشي دی
«خوشحال خټك»

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږي
په بد خوی باندې خپل واړه شي سوا
«قلندر اپريدی»

که دې رنګ، بو، لطافت واړه د ځان کړل
نور د ګل په څېری پاس په دستار ګرځه
«فاضل»

د ښه خوی ګټه ده ډېره
له ګڼلو ترانده تېره
هغه څوك چه اخلاقي وي
د هغه نوم به باقي وي
که دچا اخلاق ښه نه وي
د هغه به ژوند ښه نه وي
د اسلام دين دی راغلی
پيغمبر دی پاڅېدلی
چه پوره کي ښه اخلاق
او پر ځای کي دا ميثاق
په خويو انسان انسان دی
که نه وي خو تش حيوان دی
مکارم انسانيت دی
رذائل حيوانيت دی
«عبدالکريم کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر طرف پري سره ځمکه سره پناه شي
رب دي مه کړه د اخلاقو پله سپکه
په نسب که خان ، نواب قاضی قضات وی
بد اخلاق سړی نه ارزی په کنجله

« احمد گل الهامی »

لکه کښت لره باران اوباد په کار دی
د عالم تولی په خلق په احسان شی

« خوشحال ختك »

۲ - په ځان باور « او » همت :

چه فلك سره سر باسی
کړه ئې ندی بی حکمته

په همت کښې هغه زه یم
زه خوشحال دده په کړه یم

« خوشحال ختك »

په تېرو تورو ور درومی یکسر ننگیان
په له بو باندې ځان ولی پتنگان !
د کنجکو قدر یو ، د در ویل د ی
ننگیالو سره څه ژوی بی ننگیان
ار تگی د زړه دلیل د جنتی د ه
د دو زخ دا ور لا یق د ی دلتنگان
د باد شاه په سلطنت پوري خندا کا
په سپېر و ایرو لړ لی ملنگان !
نور ماهی ئې تار په تار درومی له مخې
ما توی لو لې بېړ ی، نهنگان
دهاتی دپاسه سپور ورته پیکه وی
چه د میو پیالې آخلی سر هنگان
څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پر ها ر ژ ا ی پلنگا ن

« خوشحال ختك »

چه په غوښو ئې روز گار هغه زمری یم
نه چه والې ئې خوراك هغه منژك یم
که عالم راته گل تا وکاغم مې نشته
په رښتیا ویل د دېرو بو لیو لك یم
په دانش په شعور نده په همت ده
چه دا هسې سر گردان لکه پتك یم
هر پښتون چه د مغولو نو کری کا
که د ی زر ، د هغو والدو بهترك یم
چه منصب مې د مغل خوړ یو ملك وم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
شکر داچه په خپل حکم په خپل وك یم
نه مې کار په خاص وعام نه په دیوان دی
نه په درو لاړ د هر یو ه مردك یم
نه تصدیق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر د سند نه د دستك یم
هر گیدی به چه له ما سر کوزی غوښته
د هغه د سر یا توره یا کوتك یم
پښتانه لره شړی، اندېر مې بس دی
نه په فکر د مسندنه د تو شك یم
آزادی ده په ساده سپینه جامه کښې
خلاص دغمه د زر بفت اود میلك یم
د وښو جونگړې هسې راته ښې شوې
وایی ناست په محلونو د آهك یم
که او گره د بټو شته په شړو مېو سپینه
د مغولو پولاو پانې دېر پرې دك یم
چه نیولی مې داهود دننگ ونام دی
که له خپلو هوده وا ودم کنیزك یم
په بل غشی توپك هیڅ ویشتلی نه یم
که ویشتلی یم خو بیا په خپل توپك یم
چه شېپر مې ښی خیل وو کند کیرشول
پر وا دار په لندو پرونو دبارك یم
د کریز بړنې مې توئې لکه باز کړې
گمان مه مکړه چه بې پرو ښا پیرك یم
تف په زیره د همه وا مو بسار کو
لا زما په زیره هم که زه بارك یم

که دوارو پښتنو را ته تسلیم دی … زه خو یا دسپاکۍ انا خشتک یم
نن خو قام را سره ډېره جفا و کړه … کانده یا د خدای وحکم و ته ځك یم
که څه حق یا دنیکی یا دووری شته … و یا داش وته په طمع د هر یك یم
مهمندی زما د کډی لاس او پښې دی … راضی من دافریدی یو یه کو مك یم
ډېر چینی چه تراوش و کا دریاب شی … چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم
کر لانسی خړ بسنی څو چه پښتانه دی … زه د ننګ په کار دوارو مشترك یم
که مې عمر په شماره تر شپېته تېر دی … لا په کار د سوارۍ لکه از بك یم
د افغان په ننګ مې وتړله توره … ننګیالی دزمانې خوشحال خټك یم
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تیشه د فرهاد شه ده … تر هغه چه نا هموار لکه خا را یم
تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم … خو ش په طور د مك بې دست ویا یم
« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس و خاشاك په خپل گردن زده … حو صله دي په مثال د لوی دریا کړه
« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحر و بر … که څه سمه وی که غر
په همت به ئې تسخیر کړم … په شاها نه شا ن وفر
« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه … دون همت اندېښنه مه کړه بله بله
« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې دزمری په خوله کښې ور کا … خدای دي نه کا چه عارف پکښې غارت شی
« خوشحال خټك »

څه هغه شهباز څه چه دي ځای په سردرو وی … نه لکه د کلی کارغه گرزه غم دبن کړه
« خوشحال خټك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله … که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی
« خوشحال خټك »

سر دي دروم مال دي دروم پت د نه ځی … د سړ ی د چارې کل خو بی په پت ده
چه یی خدای ور کاو چاشکرد کاندې ندي … په جها ن کښې او په بخر ه د همت ده
« خو شحال خټك »

علم تا بیائی په پورته جهل تا بیائی په ښکته … یا عیسی اره وردرو مه یا قا رون ته ځان سپاره
د نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وی … خپل کشکاب دخپل محنت خوره په سر راوده پشتاره
« خوشحال خټك »

❀ ❀ ❀

هغه ژ یست چه د عز ت له مخه نه وی … چه یی کا به هغه زیست پورې هکه پکه یم
اوریی پوری په منصب په نو کری شه … چه تر فهم و تر نظر د مغل ککه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل نام ونګ چه را شم لیونی شم — خبر دار کله په سود او زیان د لګی یم
چه په طمع د او ږ و زغلی و شست ته ! — ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمګ یم
تر قضا پور ی د هیڅا چا ره نشته ! — او کنه تر زاړه ذئب لا زیرک یم
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی — نه چه ګرځي ګونګټ نیسی باد خو رګی یم

« خوشحال خټک »

❀ ❀ ❀

که د جام لکه حباب وه نه نیو سینه ته
آفرین دې په همت شیدا خټکه

« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په څو غره په غره د باز غوندی پرواز کا — بیا به وانه ی د خوشحال خټک پر نشته

« خوشحال خټک »

ساقي جام د میو مه پر ښږده له لاسه — څو د عقل څه زده وی لا به مست کښې
د بلند همت کښې پورته پورته درومي — ښکته ښکته ځي سړی په پست همت کښې

« خوشحال خټک »

چه همت د سړی څو قدر ی هو مره — د تمیز په تله هر سړی تا له شی
د و لتمن سړ ی هغه بلبلی بو یه — چه له سینده نی جدا د چا واله شی

« خوشحال خټک »

نور ه پښتو نخوا ه په ځای میشته د ه — خو یو زه دی زمانی په کښې منصور کړم
که یی درست د ټو زور راته ښکاره کړه — نه به بیا په قوم کښې کښېنم نه به هور کړم
عجب مار می جار و تلی تر دوه پښو دی — مګر لوی پاچو پیداشی چه یه دور کړم
مست ها تیان خونی زمری په زنځیر کښېږی — بویه دا چه ځان فلك وته تر بور کړم
په خپل اه مې باور شته اثر به وکا ! — ر قیبان به او ر لړ و نی د تنور کړم
پو دوه سری مارمی پروت په دواړو پښو دی — په دیدن یی له نشاطه نفور کړم

« خوشحال خټک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه — چه محتاج د خیاط نه شی پیرهن ته

« کاظم خان شیدا »

د باښی د باز نصیب شوی تازه غوښی — دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کندی

« مطیع الله »

وزی تښتی پروت په خپل پوز کی ښه نې — نه په تخت د پاسه ناست د بل کره
دمنت پو لا و دې زهر شه که نې مومې — د محنت سوی سکړك د ساګی سره

« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی په لوی دریاب کښې ګرزه — په بیله کښې د ې زوال وینم نهنګه
عاقبت به ککری ور باندی کښېږدي — تر څراغ چه کیږ وښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پالنګ را سره نشته — دا هم شکر چه نې پوی ځی له پالنګه
دغمزې په تیغ نې خوږ ښه نې خوشحاله — مړ نی په روغ صورت نه ځی له جنګه

« خوشحال خټک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



که غوټۍ پسې وهي په لاس به در شي
چا وي دا چه په دریاب کښې گوهر نشته
که د جنگ په کار کښې زړه دې حکمت نه
خو صبا به در نشي ز لمیه ظفر نشته
څه عجب باد شاهي لکه خورشید کړم
یکې تنها په جهان گرزم لشکر نشته
د منت دارو که مرم په کار مې نه دی
که علاج لره مې راشي مسیحا هم
« خوشحال خټک »

راشه گوره نامردان بلا و هلي
د یری میدان پر پښو دی لري تښي زغلي
د آسمان د پاسه گنبت ننداره نکاه
کوز د ځمکې د تلي په مینځ کښې هلي
مړ هغه چه یې نوم نه یې نښان شته
تل تر تله په ژوندون پاتې ښاغلي
خوك په خپل پښې کړل کا د اغزي و
چا په خپل پښې گډو نه دي کرلي
پسینه که نه هومره فاتیده نه کا
چه په وخت کړنه و کا پر آخلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت موي
رنج و گنج سره دا دواړه دي ترلي
« خوشحال خټک »

ښښیا د د چاري په مصلحت دی
بیا د مړ د انو په شه همت دی
چه سره یو شي دا دواړه نو که
واړه دولت دی حرمت عزت دی
« خوشحال خټک »

مردان هغه دي چه همتناك وي
د ننگیالی په کار کښې چست و چالاك وي
کار چه آغاز کا انجام یې فرض گڼي
په زړه هم پاك وي په خوله هم پاك وي
« خوشحال خټک »

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو گرزم
څه منت به دد و نانو د دینار کړم
چه په وازه خوله موندہ شي مه یې وینم
که صدف غوندې حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

که د ځمکې غوندې کوز په تواضع یم
په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

چه همت دې د تیوس دی ځان باز مه کړه
ځان په رسم د جانباز و جان باز مه کړه
« عبدالقادر »

هر سړی په موافق دخپل همت نظر اړینه
په وړو چارو هیڅ کله کته نه کاندي لوی چاری
« عبدالقادر »

مردان هغه دي چه همتناك وي
په هره چار کښې چست و چالاك وي
چه غم پېړي را شي پروا دغم نه کا
خوازه له هر چا په زیست وژواك وي
« خوشحال خټک »

چه په شان د آفتاب ندی گرم رو یه
ستا په سر کی په سایه د هما خوښ یم
« کاظم خان شیدا »

چه همت مې نه کاږي په هسکو او
لکه موج نکړمه بیم له پر پو تللو
سوال مې خوی له در افشانه ابر ندی
صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
د آفتاب په کمند نه خیژم آسمان ته
نه زدم بار لکه شبنم پر دوش د گلو
« کاظم خان شیدا »

۳ ـ امید :

د شپې خپتن دې سحر ته ګوري
هیڅوك دې طمع امید پرې نه کا

ګوندې پرې و خپرې د صبا ستوري
باران په تږو کښتو نوا وري
« خوشحال خټك »

له مقصوده نا امید مه شه یکلخته

خدای په خمکه ګامرغونه د هوا پېښ
« عبدالحمید مهمند »

دادستور دی چه شپه و لوېږي په خمکه

په شتاب ور پسې صبحدم راځي
« عبدالحمید مهمند »

په ژوندون به لکه شمع دا سرد نه شم

چه تر مرګه پورې زما جانګزاري ده
« کاظم خان شیدا »

هر ګره ګره کشالري نیکبخته

نا امید له خدایه غو نه چیبن مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

٤ عزم او توکل :

دهوشیارو نادان هومره تفاوت دی
که په ما باندې خرڅ خوري پروایی نکړم

خو دخمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
د هر هر ګله دانا سره په نسبت دی
« خوشحال خټك

تېرسي تریاره هرچه دېرې اندېښنې کا

نورې ګیسې پر بېږده د عشق په توکل هسې
« خوشحال خټك »

هغه باغ چه تل ما واده دبلبلو
دزړه راز و چاته ووایم حیران یم
توکلت علی الله و ینا پسوه ده

اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر اوری چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال دزمانې سره ساز نشته
« خوشحال خټك »

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي

جمعیت مومی خاطر له توکله
« عبدالقادر خټك »

۵ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دې سستی وینم درویشه
نعمتونه رنګارنګ دی په هراوری
څو طلب هومره موندل دی په دادور
د عسلو خوازه ګله هغه مومی !

چه و نلی یی ددې خونې له ویشه
په غېښتونی با نمې نده جفا پېښه
بلکه لا تر طلب بخره مومی بېشه
چه حذر کا د مچی له بده نیشه
« خوشحال خټك »

عشق چه ډېر ولې بېتير انداز شي
کار د محنت دی د مشقت دی

چه مشق دخط کړی وخط ته سازشي
ورو ورو په هرهر هنر ممتاز شي
« خوشحال خټك »

هر مرغه چه دبل غوښې خوري مرداردی
دذړې په خیر دلمر په طلب ګرځه
کار په تش لستونی نشی بې دلاسه
چه تقوی د یانت نلری رحما نه

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
لکه تیږه هسې پروت په زمین مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
د دې هسې همنشینو نشین مشه
« عبدالرحمان مهمند »

چه زمری خپلی منګولی نه کا کښلی
هومره نه‌وی ښکر یې ښوبنی ورته لمي

مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا
چه قبول کاندی د بحر خوني چلي

عاشقان چه ترسر تیر شی هله ښکل کا
د دلبرو یستي خولي لکه جلي

بازچه والوزی له جالي هله ګوری
د کبکانو ښایسته سترګی کجلي

چه داور بغری یاد سره رفیق شی
بیا هاله کا په ملکو نو لمبي بلي

چه سیلاب دغره دسره نه روان شی
بیا هاله بیابی په میخ د یری خځلي

«خوشحال ختک»

* * *

په تحصیل پسی یی څکه کوښښ بویه
خپل هنر له لاسه مه پریږده خوشحاله

«خوشحال ختک»

چه تورده ترخه قبول لکه دریاب کا
هم هغه د قیمتی د ر و صاب شه

چه لمبه یی د آتش کره په ځان تیره
له‌غه پسه دګلا بو ګل ګلاب شه

د کمال کسب پا یه دسعا دت ده
هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه

ته هم زده مراد وغواړه له عمله
چه په علم یی عمل و کړ کامیاب شه

«خوشحال ختک»

ښادی عم غوندي آسانه موندنه شی
سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دی

«عبدالرحمان مهمند»

زر ندوهله څه حاصل کاندي چه ګرزی
یو زمان قراری مکړه له طلبه

«عبدالقادر ختک»

له آزاره چا بازار مو ندلی ندی
له انګاره چا ګلزار موندلی ندی

تلوار مکړه په خپل واربه برخه در شی
بی له‌واره چا خپل وار موندلی ندی

په قصور مطلب موند نه شی پسی پاسه
له ګفتاره چا کردار موندلی ندی

«مطیع الله پیر خیل»

کار کوه کار په کار هم کاردی
تاوان په ځان باندي خالی ګفتاردی

عقل څه بل دی خبري نور څه دی
ګو تره ګویکه طوطا طرار دی

«عبدالقادر ختک»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندي
عمل هم ورك شو په مځکه باندي

او س په خبره برول و بل دی
دا بیت بازی دی عالم یی کا ندی

«عبدالقادر ختک»

کله به لا دروم ی له مانه ای دسحر خوبه
خوب بیغمه نه کا چه په مځکښ بی منزل دی

«عبدالقادر ختک»

چه منت په ځان قبول کا نو راحت شی
چه عارف د مصیبت شی عافیت شی

«خوشحال ختک»

٦ ــ صبر او استقلال :

غشی چه د یر ولی ښه تیر انداز شی
چه مشق د خط کړی و خط ته ساز شی

کار د محنت دی د مشقت دی
ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتاز شی

« خوشحال ختک »

مړ نه يي د هر چا نندی سره سمي    دخرد بار دفيل په شا باندي مثقال دی
نه چه لافی د مردانو د ميدان کړی    په ميدان دی کوم راوړی استقلال دی
که همه خلق يې سنز شه پخندونه    بيچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټک »

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی    چه غم پرې راشي يکښي خو شحال نه دی
مرد دی يې هيڅ ده و زما په بو هه    که بی به جاه ودولت شوك سيال نه وی
« خوشحال خټک »

اضطراب به دي خلاص نه کاله غداته    مستقل و ر نه په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټك »

په تاکه راشی خدا ته لو يه    تېښته تسليم صبر نه بو يه
نه به پې دفع په صبرو کړی    نه په لښکر و په زرا و زو يه
« خوشحالی خټك »

صبرو نيسه په خکښي که مراد غواړی    هيڅ کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »

ای حنانه صبر وکړه مراد به مومی    د فلك زر نده په وارده پس ، پېش
« مرزا حذن »

خلاص به نه شي سر کشان له گوشمالی    چه فلك به جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شيدا »

دا نا پي مه گڼه چه صبر نه لري    چه صبر نه لري حکمت به څه لري
سړی دصبر به کار کښي و زمېه !    چه صبر ناك وی هر څه به ښه لري
« خوشحال خټك »

صبر ناکو سره جور فلك نه کا    د فلك جو ر د چا چه سبکسا ر و
« خوشحال خټك »

ژوندی که گرځی ځان يې ژړلی دی    تو ر زن دسر به وينو لړ لی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه مومی    ظفر له صبر ه سره تړ لی دی
« خوشحال خټك »

شورش مکړه دگردون له کشمکشه    اومه کلکه کا مرغی له اضطرا به
« اشرف خا ن هجری »

## ۷ــ دوخت اهميت :

دو باره دي را تله نشته په د نيا
هرکار چه تروخت تېره شي عنقاشي
تر ورځ تېری او به پېرته نه جار وزي
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی
هره ننه چه صحيح گڼه په زړه کښی
په عمل د نيکو بدو فهم و کړنه
ننه

نن دي وار دی که دروغ کړی که رښتيا
عنقانه نيولی په دا م کښی د هيچا
نه جار وزی تېر ساعت به پېرته بيا
مړی چاری ژو ندی کړی په ژړا
په غرور به هغه ننه کړی خطا
چه په دا کښي دې بهبو د دی که په دا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کا به وخت ورته موی

که د پره سعیه کوښښ کړی څه شی
که هر څو مې په ټېری مـلاج کا

آبشار ه ! و لی دا همې ژاړی !
که تل فریاد کړی په کاڼی سروهې !

کړل دی ویل دی دواړه اوان لری
چه کار دنن ورځې پر پرېږدی صباته

٨ ـ زړه

شه سړی پردی په دلاسا په نیکی خپل کا

یوزړه د خوشحال ندی چه جهان پکښې ایده شی

دواړه ګو نه لکه تن دی
زړه یې چون او پیچکو دی

څو دې زړه خاندی خوله دې خندا کا
مدار د هرې چارې په زړه دی

د ناز کدلو اطوار مشکل دی
.. مم یې نښته کنډول یې هم لا

مبرو سو ځه په اور کښې شراب وځښه

که هزار ځله تقوی په هېر ګاری کړی

قلب د مومن کوره ملقب په عرش الله دی

چه ذړه تو دنیا مخلو ... پروا وی

و ګړی واړه کاروانه خپل کا
څو کړه چه آرام ګټی د شکو نام ګټی

د هغه عالمو ژړې د وشکو دی
« عبدالرحمان مهمند »
په وخت چه نکړی بې وخته څه شی
په ژانګی چه کښېوزی پورې هاله شی
« عبدالقادر خټك »
له چا فریاد کړې خوك پسی غواړی
بیانه را نشې او په نڅه لاړ ی
« عبدالقادر خټك »
چه وخت یې تېرشی افسوس ارمان لری
هو بیا ز به نه وی دا خوی نادان لری
« خوشحال خټك »

کومه شاغلیاده چه خوك بد کا زړه دیار خپل
« خوشحال خټك »
د هر چا زړه مر آت دی صفائی ورله بویه
« خوشحال خټك »
کار د تن جوړ وی زړه
خوك دا غوښه ګڼی زړه
« خوشحال خټك »
چه زړه دې ژاړی ستر ګی ژړا کا
زړه دی مفتی دی هر ه فتوې کا
« خوشحال خټك »
په دا به پوه شی هر چه عاقل دی
که زخمی شوی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »
در ته وایم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »
شه دې نشته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتك »
زار ذار زاز جوړ و چه د زړه په بازار بلوسی
« دالپوری حافظ »
تر و که زړه د سړی پوسی څه پکار
« عبدالرحمن مهمند »
مردان هغه دی چه کار د بل کا
د خوزو ژړو نو دارو به تل کا
« خوشحال خټك »

نه سره سم دی و اوده مړو نه !    نه سره سم دی دهر چا ژړو نه
زړه هم هغه ګڼه چه اکه غرشی    که بیا ئې راشی هزار غمونه
«خوشحال خټک»

مرهم به زړه‌ژده پیر هارونه    دا بیا به ګل کړی نادان خارونه»
په هره سوړه لاسونه مه منډه    په‌ګښ به خوب کا خونی مارونه
« خوشحال خټک »

زړه دی دهر چا سره صفا وی    په‌چا ګرم مه‌شه که‌دی رضاوی
که‌څوک ئې ناحقه اتا پرخاش کا    اندوه ئې مکړه ظفر به ستاوی
«خوشحال خټک»

په‌بدن کښې دزړه اهمیت .

زړه په مثل د پادشاه دی    هر اندام د ده سپا دی
قول د ده فرمان بردار دی    دی پادار دوی خدمتګار دی
کل اعضا یې مسخر دی    د ده حکم ته مضطر دی
په فرمان یې خوله ویل کړی    لاس نیول ، ستر ګې کتل کړی
په بدن کښې ګوښت پاره ده    چه ځکو چنوتې یې جثه ده
چه وی راست شی راست بدن شی    چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فساد :    تمامی به زړه بنیاد
تمدام اصلاح دزړه کړه    په هیڅ وخت غفلت مکړه
زړه په مثل ګنجینه ده    د ګوهر و خزینه ده
دېر پکښې دی جواهر    قیمتی نفیس نادر
اول، عقل ښه ګوهر دی    د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر یې معرفت دی    زیات تر نورو په قیمت دی
نور علمو نه حکمتونه    واړه دی لوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده    د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم یې ده ساتنه    له جمله ؤ غلو رهزنه
چه دښمن یې تالا نه کا    جواهر یې یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه‌غرقاب‌شی نورمژګان په‌نم‌دزړه    نورخراب شی خانمان په دزړه
عبث‌وای غم دزړه وبو الهوس ته    چه‌پوهېږی هلکان په غم دزړه
په بل مخ بانديې سوا د یار له مخه    ما ترلی دی چشمان محکم دزړه
چه‌یې عرش او کرسی لاندې‌تر‌قدم‌دی    بالا تردی هسې شان قدم دزړه
دخلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده اویه    که‌آباد کاڅوک ویران‌حرم دزړه
که‌نور خلق قدمونه ژدی په مځکه    مادی اېښی په آسمان قدم دزړه
دامکان‌چه‌د‌آسمان مځکی‌ترمیان‌دی    یو خلوت دی دامکان سلم دزړه
زه مرهم دزړه له‌چا غواړم بې‌یاره    چه کړی نشی طبیبان مرهم دزړه
صورتي همدان دیر دی په دنیا کښې    ولې نه مومې رحمان همدم دزړه
«عبدالرحمن مهمند»

(c) ketabton.com: The Digital Library



همیشه په ځای د شکر شکایت کړي! — منکر پېږي په عطا د سبحان و اې !
در بټلي خدای دهر ې چرې توان دی — په دېر توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!
زده دنفس په پیروی در څخه لاړو — د خبیث په لاس دې ورکړو قرآن ولي!

« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره! — خویو مکره آ زرده دمسلمان زړه

«عبدالقادر»

مرده دل دې له ټټره زړه بیرون کا — یو ساعت په کور کښې نه پرېږدي خوک مړی
جمعیت چه لدنیا پید نیا غوا ړي — هغه غږی په معنا د شګو یړی

«عبدالقادر»

هر څوك چه یو کاززه خوله خپل دوا ړه — دو یم په نیت شي ثابت له واره
که کمی ورغی په دین د نیا کښې — تاوان یې واړه وزما په غاړه

«عبدالقادر»

هغه چه ستادي چه یې سائل نکړي — ویره مې کیږي چه یې دبل نکړي
که دادې خوی دی دادې خصلت دی — خپل به پردی کړي پردی به خپل نکړي

«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا شه کیږي — نه کړه د عا ګټه د عا قبلیږي
ازار د هیچا د ا خستو نه دی — شپږې د خوز و زړو نو لګیږي

« خوشحال ختك »

لتو مه ګنج دزړه په ویرانه کښې — پر و ا نلرم د شهر په عسس

«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښي یو وار بسی ولاړ نی — لکه چیر ته ابشکر دروی د سلطان دوست

« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بد خشان دی — یا مشکل دی ر غول د شکسته ؤ

« خواجه محمد بنګښي »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی — چه پراخ تر هر کشور دی هغه زړه دی
مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی — په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یې مه بو له بیحده مشرف دی — چه د خدای باندې نظر دی هغه زړه دی
دمکې حج خو موقوف په یوه وخت دی — چه مدام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو یې صفت وکړم څه به و کړم — چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بیحده عالي شان دی — چه تر ډېر خوبو خوبتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی دریاب دی — چه محل د در ګوهر دی هغه زړه دی
څه سیالی به نیشکر ور سره کاندې — چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

دا د خولې په وېل حکم دقاضي دی
چه ظاهر وباطن دواړه یې رو ښان دی
هیڅ اشیا یې لـد فتره بېرون نـه دی
زه ئې به يې ئـن کم هنر بیـان کړم

چه مقبول دخدای په در دی هغه ژبه دی
چـه دا هسې بلند لـمر دی هغه ژبه دی
چه د درست جهـان دفتر دی هغه ژبه دی
چه منـبع د هـر هـنـر دی هغه ژبه دی
« عبدالنبي »

دلجو ئـی به دي تمـام وګړی و کړي

کـه ته هم د د لجو ئی په جستجو ی شـی
« قلندر »

داپند له مـانه په ژبه کـښې یاد کړه
ژبو نه د هر چـا په احسان ښاد کړه .

خو د ې لاس ر سـی مر و ت د اد کـړه
آز اد بنده کړ ه بنده ه آز ا د کـړه
« عبدالقادر خټك »

٩ ـ ژبه

قولا دې تو ره وی که اوبه تبه !
دنړ ئې بلا به د ر خخه وا و ړ ی

تر دا لا به ه ده بد ګـو یه ژ به !
ژبه که بده کـړ ي د پند طا لبه !
« خوشحال خټك »

په واك چه نه اری په کـام کښې ژبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی

که ګـنګـک شی ښه دی په لویه تبه
ایمـا ن لا هم ځی و ا وره طا لبه !
« خوشحال خټك »

خوږه مړی ده کـه خو ږه ژ به !
هنر هم دادی کـه دا هـنر اـري

چه خولا یري خپل کـړی زما صاحبه
چـار به دي تل وی تر سیـا ل غا لبه .
« خوشحال خټك »

که هر څو ښـر یې تـر صحبتو نه
لا به یه ژ بـه ښـر فهم و کـړ ی

عـلـم اد ب لـر ي فصـا حتـو نـه
د ژ بې ښ ېـر د ی قـبـا حتـو نـه
« خوشحال خټك »

ژبه عـا دت کـړه په ښه و یلـو
کـه يې عـادت کړي په بد ګـوئـی

چه د ي عـا د ت شـی هغه تـر تلو
مخ به دي تور کـا تر ير د و خپلو
« خوشحال خټك »

په مر هم دخوشامند سره روغ مشه

هغه زخم چه پکښې تیغ دژبان کښېښي
« پیر محمد کـا کړ »

په مجلس کښې دمه روی و خـکه زاړی

شمعې هم ځ کـا ره کو له بله ژ به
« عبدالله یو پلزی »

هر سړي چه شی ګـویا لکـه قلم

سر به یې شی له تن جـدا لـکـه قلم
« عبدالله یو پلزی »

درست عالم به داخبره خبردار دی

چه بلبله خپلې ژ بې په قفس کړه
« خوشحال خټك »

(c) ketabton.com: The Digital Library

روهي ګلدی ... (٥٢٥) ... دار معهد ... التاج الدين ، محمد الامين ، ن رجب علي ، ه ا جرا ئيه پښتو ټولنه ١٣ - ٣٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامت کاروان به تېر کړي له رهزنه — که جرس رنګه نه کړي په غوغا ژبه

« ملاجمعه »

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده — فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده

چا يې پلو د جمال وانه خیست — پښتو لا هسې بکره پرته ده

«خوشحال خټک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده — صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده

چه ښه مې څير کړ ښه پرې خبر شوم — جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده

«خوشحال خټک»

جنګ د هاني او مزري آسان دی — د خپلې ژبې آفت لا ګران دی

چه خپله ژبه يې په خپل فرمان کړه — هم يې رستم ګڼه هم لا لقمان دی

«خوشحال خټک»

که خوک نيکان دي که خوک بدان دي — په دا دنيا کښې چه په هر شان دي

مه يې ستاينه کړه مه يې غندنه — نه به يې څه کړې چه د خپل ځان دي

«خوشحال خټک»

د هوښيارو ژبه په وي په زړه کښې — راز به نه وايي اشنا و نا آشنا نه

لېږ او ډېر ويل به نه کاندي بې ځايه — هيڅ باطل ويل به نه وايي و چا ته

«خوشحال خټک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو — خبرې ښې دي ښه تر شکرو

د خوند مثال يې شکري وايم — قدري ډېر دي تر مرغلرو

« عبدالقادر »

لکه وي د ی له ميدان ګوي د اخه ژبه — نه يې شي وړای په تېره کړي شمشير ګوره

« عبدالحميد مهمند »

که دين دنيا غواړې پرده پوشي کړه — فتنې له خولې پاځي نو خاموشي کړه

که نه خاموش يې نه پرده پوش يې — بېخوده پر يوه باده نوشي کړه

« خوشحال خټک »

سخي يې مه ګڼه چه نغن يې خوار نه وي — پا تو ري مه بوله چه پرې پرهار نه وي

که دانشمند وي تفسير په ياد لولي — چه ډېر ويل کا دی به هوښيار نه وي

« خوشحال خټک »

ښې خبرې در ګوهر خاموشي مهر — دا نااتل ځکه په خوله د غه خاتم ږدي

« عبدالقادر خټک »

د ميرو ميره د خانو خانه — د جهانيانو جان او جهانه

دا رنګ لوبې به هاله روزي کړي — که وې نيکنيته او نيک زبانه

«عبدالقادر خټک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری
سیلاب تش لاس دی سیند امن پر لری
دسیلاب گټه د کانو د کڼه ده
بحر په گټه کښی قیمتی در لری
«عبدالقادر ختک»

لهخامی جوش وخروش څېږی لهدېگه
دی له خپلی پختگی پختگان چپ
په ابو بهدې ډېوه شی دمراد بله
کهصدف غوندې پهصبر کړې دهان چپ
چه دانه پهخاورو پټه شی خوشهشی
په کو گل دننه وساته ارمان چپ
دبلبلو نارې ښې نهدی پر گلو
چه پهسر ولمبو کښی سوځی پتنگان چپ
لکه کاه اوکهربا چه سره بولی
هسې پټه خوله بلل کاندې یاران چپ
«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کوه عبدالحمیده!
کهپه ژبه اویزان شې لکه صبح
«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزمانې کوه عظیمه!
مه له خولې نهځه وباسه مهځه وایه
«عبدالعظیم رانیزی»

صافدلان له گفتگو په خفه کېږی
شی نفس دآئینی پرمخ غبار سخت
«مرزا حنان»

١٠ اخلاص:

گوره څه بلند مقام دی د اخلاص
چه جهان وارده غلام دی داخلاص
کهله ځمکې نه اسمان تهځاته گران دی
د اسفر په پوه گام دی داخلاص
چه خبر کا مخلصان له علم غیبه
داهمه وارده الهام دی د اخلاص
در واج د رسم عمر مدام نه وی
لکه عمر چه مدام دی داخلاص
بی اخلاصه حلاوت د اسلام نشته
که اسلام دی خو اسلام دی داخلاص
څهعجب دی کهمستان وی تری چاپېره
هرساقی ځخه چه جام دی د اخلاص
څه عجب دی که همای په دام نښلی
هر صیاد څخه چه دام دی د اخلاص
درحمان کلام په داسبب شیرین دی
چهیی هر کلام کلام دی د اخلاص
« عبدالرحمان مهمند »

هرباغی بوزې بنده کاندې اخلاص
هر بې شرم شرمنده کاندې اخلاص
آب وتاب یی عالمگیر لکه افتاب شی
هرجبین چه تابنده کاندې اخلاص
هیڅ پروایی دحیوان په اوبو نهشی
هغه ژوی چه زنده کاندې اخلاص
هیڅ مقراض یی غوڅولی په خوله نهشی
هرپیوند چه پائنده کاندې اخلاص
هغه کار چه سحر گر کاندې پهسحر
ترهغهیی څوچنده کاندې اخلاص
سمد لاسه زوند کافر دلو کاا و
واسلام ته خواهنده کاندې اخلاص
دنفاق له اهله ځان ژغوره حمیده!
پهلباس بهدې گنده کاندې اخلاص
« عبدالحمید مهمند »

هر باغي او هر سرشوخه هر بې شرمه — همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نیکۍ نوم به عالمگیر لکه اقتاب شي — هغه څوك چه همیشه کاندي اخلاص
د نفاق د شپې تیاره به رڼا ورځ کا — چه سحر غوندي خنده کاندي اخلاص
که بې پښو لره راشي ملامت یم — که انسان له درنده کاندي اخلاص

« شمس الدین کاکړ »

## ۱۱ ـ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه راز یه — هوښیار به څه یې و ماته وایه!
هرچه هوښیار دی هنر یې دادی — خبره نه کا چاته بې ځایه

« خوشحال ختك »

د باد شاهانو په راز خبر مه شه — که یې خبر شي ځان ته غاورمه شه
راز یې د زړه په صندوق کښې وساته — په ښکاره ول یې چاته لر برمه شه

« خوشحال ختك »

که چاته و کړي د زړه خبره — تا کبد یې و کړي چه و یې نغوره
که دی خپل ځوی وی گمان پرې مه کړه — چه به یې نه کا چاته ظاهره

« خوشحال ختك »

که بېځایه زړکي نه وښکۍ آواز — نه صبا د ځنې خبر و، نه شهباز
سکه لیه دې خبرې هسې معلوم بېرېږي — چه خپل صوت دی هر سړی له غماز
د منصور وحال ته گوره حال ئې څه شو — خدای دې فاش د هیچا نه کاندي پټ راز
د ریغه د ریغه که وروستی عقل دومې وای — د انجام خبري نه شي په آغاز
چه منکر پرې اعتراض کولی نه شي — دا د شعر دی رحمانه! که اعجاز

«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مایو ښتې دیار له حقیقته — څوك دیار خبري کاندي واغیار ته

«عبدالرحمان مهمند»

خاص خلوت د ښکلیو عام په وخت د خط شي — کم فوت سړی له هرچا سره راز کا

« عبدالحمید مهمند »

ځای په ځای په ستا د مال حساب کاوه شي — خپل اسباب د کاله مه ښیه مزدور ته

«عبدالعظیم رانړیزی»

هوښیار به هر کله زمانه سازوی — په دانائی به یې د کار اغاز وی
نادان به هیچېری په دا خبر نه وي — په هرهر کار به یې بېځایه راز وی

« خوشحال ختك »

زړه بېځایه مه را باسه و بازار ته — وایه نشي په کو څو د خلوت راز

«عبدالله بویلزی»

منصور راز ظاهر او هسو ئې ته و خوت — د خلا خبري کله په ملا شي ؟

« دالپوزی حافظ »

## ۱۲ـ زر:

اوس په‌دا دور ماولیدل خوازه دی
نورو چار وو ته څه کوري دا کوره
څکه څه‌چه د آسمان ښایست په‌زردی
شاهزاده بی زرو کوښی تنها کرځی
زور، قوت، حرمت هوري‌ درومی چه‌زروی
هرمراد چه‌دسړی وی په دنیا کښې

په خیالی کیسه به نرسی تر کامه

که‌هرڅومشکل کارونه درته‌پیښ شی
ماچه ولیده خوازه دی پدنیا کښې

که‌پښتوی په‌اوریخ کښې‌هم‌ترمیاشتی امرتېری کا

زردی‌چه ز پرمه دننګ وشرم کا
دېر کران کارونه‌په زر آسان‌شی

زردي هرچاته اعجاز معلوم کا
وینځه میرمن کا خادم‌مخدوم کا

بادشاهان ښه‌دی په‌خوانو زر ښندی
زرسردا دواړه تو کو دېر کران دی

زرپه بده ورځ په کار وی
دزر دار بلا په زرو
چه سپروی کذار په سپر شی

چاومانه نصیحت کړ چه زرښه دی
چه‌په کور کښې خزانې لری دزرو
هربادشاه چه خزانه ور څخه نه‌وی
هرسړی‌چه په‌نام لوی په‌دولت کم‌وی
په‌مثال یی دهغې مرغۍ مثال کړه
کوره مادهغه څرنګ جواب ور کړ
ماوې مرد لره خونام بویه نادانه

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چه صاحب دمسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردی‌قمر زر
دهندو سره روان کا لښکر زر
دپادشاه په‌سر خوك کښېږدی افسر زر
دطلب په وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال ختك»

څه حاصل که بوعلی شی په قصو!
«خوشحال ختك»

فکرمکړه چه‌آسان به په زر نشی
خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
«خوشحال ختك»

همه‌عالم خبردی چه‌زر ښه‌دی له‌درمه
«خوشحال ختك»

صحبت د هرچا و بلـه کرم کا
زرپه‌فولاد کښېږدی فولادهم‌نرم کا
«خوشحال ختك»

معدوم موجود کا موجود معدوم کا
زرپه‌سندان کښېږدی سندان‌هم‌موم کا
«خوشحال ختك»

څوانان‌پرې ښه کا چه‌ور ته‌سر ښندی
یویوی و ښندی نه‌یی هر یو ښندی
«خوشحال ختك»

هوښیار څکه ساتی زر
د نا دار بلا په سر
چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال ختك»

ته اول به کا دزرو چه خبر دی
هغه کس که‌یك تنهادی زورور دی
عاقبت ورڅخه تار پتار لښکردی
په‌معنا بدر نګه ښځه سپین خادردی
چه‌سینه یی کشاده تن یی لاغردی
پرې‌به‌بوه‌شی هرسړی‌چه‌دا نشوردی
نه دزرو تولول چه بد هنر دی

که هندوځخه انبار انبار مهران وی    په‌مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په‌خره باندې‌دزروصندق بار کړی    خر به‌هیڅ پدابښه نشی خر خوخردی
چه‌هنر یې دلویې وینویه لاس کښې    دهغه وجود پارس شو واده زردی
«خوشحال ختـك»

ځکه‌نوم یې دزهب وربانديِ کښېښود    چه‌دباد غوندې هردم کا گذرزر
«عبدالقادر»

که زده سخی اری چه مال یې نه‌وی    په‌ځان مې ولید څه حال‌یې نه‌وی
که باز داواده هنر د ښکار لری    ښکار به‌په‌څه کوی چه‌بال‌یې نه‌وی
«خوشحال ختـك»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه وینا کاندې چه‌یې وینه    دخاوند په‌لاس کښې‌زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یې اوری    ددرهم خاوندان تل‌وی په ویادونه
که‌درهم بی ځنی ورك شو شی نتلی    پر ژړی یې وی په خړو پېژندونه
که‌بلای سونه‌ی(۱)وبولی خلق وایی    داوینا ده رېښتیاینه له رښتـو نـه
که‌بې وزلې ووایی ر ښتیـا خبره    نور خووایی دخوسونه‌ی‌دی تېرونـه
هو، درهم ښندی هرچاله لویـه برخه    ددرهم دخاوند هرځای پرتمونـه
درهم ژبه ده که څوك ژبور کېږی
ده وسله که‌څوك به کاندې قتالونه
«ابومحمد هاشم‌ابن زیدالسروانی البستی المتوفی ۳۰۰ه»

چه‌نېستګاره‌شی که‌ځوی داحمدشاه‌ئی    ترتازیات په‌دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

❁ ❁ ❁

۱۳ ـ خپل قام :

هرسردارچه دخپل‌قوم دبدوخیال کا    آئینه دې‌دخپل‌ځان حال‌دجمال(۲) کا
پرې کوی ترخپلوپښو لاندې‌ښاخونه    چه‌بدی دخپل‌عزیز په‌زړه نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی    چه‌یې نفس دخپل بدوته لېوال کا
چه‌دبل‌و سرو مال وتـه هوس کـا    ترهغه پخوا به‌ورك خپل‌سرومال کـا
هم‌هغه به‌یـکښی پر بوځی دامثل‌دی؛    چه وبل وته کوهی کـنی وبال کـا
دهغو په‌خونه پېښ جنـگ وقتال شی    چه‌هوس دچا دجنـگ و دقتـال کـا
چه‌له خپلو لاس و پښو شی بېمجالـه    له‌غنیم‌ـره به‌جنـگ‌به کوم مجال کـا
په‌پردو مړانه نه کېـږی بی خپـلو    له‌لحده دااراز جمال‌جلال (۲) کـا
چه‌تر خپله حده پښه غزوی وړاندې    زمانه به‌یې جمال غوندې پایمال کـا
پردی نجره هیچـانده خپله کـړې    بلـکه‌خپله به‌پرې بایلی چه‌داخیال کا
« عبدالحمید مهمند»

---

( ۱ ) لغات ؛ سونه‌ی : دروغ
(۲) جلال اوجمال · دوه نومونوته اشارت دی · «خادم»

## ۱۴ ـ وطن :

دوطن ونې چندن اگر دی          خاوري يې واړه مشک و عنبر دی
که سرای ونورو ته سنگېر دی          کاڼي يې ماڼه واړه سره زره دی
« خوشحال خټک »

درزي لا گزلري مقراض سوزن لري          بوجمدر گوتې خو شحال خېرن لري
کوچ يې اسان دی مشکل هيڅ ندی          غم ديارا نو درد د وطن لري
« خوشحال خټک »

هغه ورځ دهجرغم لره سرا شوم          چه له ياره په ژړا ژړا جدا شوم
ماهله ماتم دځان و کړ په وينو          چه اتلک وته مې شاشو په ژړا شوم
اوس په خه دوطن کاڼي بوټي ژاړم          درخصت سلام مې کړی تري جدا شوم
بوناوک مې په دل لاکراووړله کوره          زاروبيمارمې دباغ ونه کړ خطا شوم
په محنت مې بورباض جوړ کړ په دهر          لامې گل بوی کړی نه ځني سواشوم
شبن فلک په خنډا سورشو لههوسه          چه هوډی جبل په مخزه ورته شاشوم
بوبادو په د کن نشبه چه مې دم کا          گرفتار په کنج و کاو داژ دهاشوم
« اشرف خان هجری »

## دوطن په ياد

ستا دعشق له وينو ډك شو ځيگرونه          ستا په لاره کښې بايلي ځلمي سرونه
تاته را شمه زړگی زما فارغ شي          بي له تا مې انديښني دزړه مارونه
كه هرڅو مې ددنيا ملکونه ډېر شي          زما هېر نشي داستا ښکلي باغو نه
د ډيلي تخت هېرومه چه راياد کړم          زه د خپلې پښتو نخوا دغرو سرو نه
در قيب دژوند متاع به تارپتار کړي          چه په تورو پښتانه کا گذارونه
د«فريد» د«حميد»(۱) دور به بيا راشي          چه زه و کاندم په هرلوري تاختو نه
که تمامه دنيا يوخوا ته بل خوا يې          زما خوښ دی ستاخالي تش د گرونه
(احمد شاه بابا)

خوار غريب او بې نوا واى          خووطنه ! ستا په خوا واى
وا ته غواړ مه له هنده          چه وطن بسر خه زما واى
خو ژوندی يمه تر مرگه          هم هاغه آب و هوا واى
مېشته خو ښ يم په وطن کښې          نه چه هند واړه زما واى
نه دي هند شي نه دي نوم شي          هما غه بيد بيد يا واى
چېر ها ر کښې کلا شيخ واى          رزق الله او مشغو لا واى
« خواجه رزق الله »

بې وطنه نهاپروت يم په غربت کښې          نن له ماسره همدم د صنم غم ذی
دهواداشنا په ستر گو لبده نشي          كه په خوب راته حاضر شي بس کرم دی
قاصدان له روهه رانغله مدت شو          سلام بادرا رسوی منت يې تم دی
« اشرف خان هجری »

---

( ۱ ) فريد : شيرشاه سوری . حميد : سلطان حميد لودين

پښتني جونه دي زلفي باد نه نيسي

خو به فخر د کشمير په دوشالو کړي

نسيمه ور شه د « سراى » سواد ته
سلام م وکړه په دواړه لاسه

که ګذر به خير اباد و کړي نسيمه !
په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه
ابا سيند وته ناره وکړه په زوره
ګوندي وي چه پيامي ستاسي جام روزي شي
چه سري اوبه دغره نشته په هند کښي
خدايه زړه مي په وصال دهغه خوښ کړي
هميشه به په هند نه او سي خوشحاله

نورجهان سقر شوبا دي سراى دارالقرار دي

دخوشحال دزړه خوښي نشي بي سرايه

دهواد ياران مي هر زمان يادېږي

ښه په هند کښي چنبا ګل دي
دسراى قدر نور چا نه زده

درزي لاګزلري بياني سوزن لري
کوچ يي آسان دي مشکل هيڅ ندي

۱۵ ــ مسلماني :

په دا دوه حرفه مسلماني ده
چه پسي اوس به تولولو نه مريږي

چه نه پسندي په خپل خان هغه مه پسنده په بل خان
نيکانو سره زيست روزګار په مهر و محبت کړه

په قوت به داسلام کړي

چه شمال يي بوي راوړي په رنتمبور (۱) کښي
« اشرف خان هجري »

خو به خيال کړي په اطلسو دفرنګ
« پير محمد کاکړ »

له هغه پسه افضل آباد ته
د رود د پوارو ګل و شمشاد ته
« کاظم خان شيدا »

يادي ګيت وشي د «سراى» دسيند په سيمه
ور سره زما د لوريه خو تسليمه
و لندۍ ته وينا وايه حليمه !
په ګنګا جمنا به نه وو له قديمه
تري توبه که وارد دك وي له نعيمه
داچه اوس ورځني لري دي دوه نيمه
عاقبت به عاصي ووزي له جحيمه
« خوشحال ختک »

کله به خوشحال دارالقرار لره ور درومي
« خوشحال ختک »

خپل وطن يي په هر چا باندي کشمير کړ
« خوشحال ختک »

چه ئي مخ په خوب کي وونم ويادم
«خوشحال ختک»

تر دا ګل د وطن خار ښه
په خوشحال دي ترفر خار ښه
« خوشحال ختک »

په جهدر ګوتي يي خوشحال خبرن لري
غم ديارانو درد دوطن لري
« خوشحال ختک »

هر چه نه پسندي په خان په چا مه پسنده
همدا خپل دولت بس وکايه تا شنده
« عبدالقادر ختک »

همداده که ته يي ګوري په صحي مسلماني
بدانو سره زيست روزګار هم بويه اساني
«خوشحال ختک»

د کفار انکار غارت
« دولت لواني »

---

( ۱ ) رنتمبور ديو ځاي نوم دی چه شاعر هلته بندي و « خادم »

دمسلم نښانه داده کـه یی و پښـې　　چـه اول په شریعت دې استوار شی

« مرزا خـان انصاری »

پـه مسلمو کښې خـاصـه مسلم هغـه دی　　چـه یی وشـلاوه زنـار ددی د نیـا

« عبدالرحمـان مهمند »

## ١٦ – آزادی :

وهر چاوته چه و گورم فریـاد کـا!　　روزه نهیم د جهان دی سینې خوږې

پهجهان بههیڅوك نهوی چه آزادوی　　ځنې عشق اندوه بنده کړه ځنې لوږې

عقل وهونې یی وـړی وته پیدا کـړ　　داچیچل داهل دیرانـگ دی یادیږې

«خوشحال ختـك »

چهسړي شرومې یی چښم پهوخت داوړی　　بادشاهی داورنـگ زیب زماه غړ که

« خوشحال ختـك»

دحاتم دسخاوت خبري مـکـړه　　لا یه دا کښې هم د طمع نښـا نه ده

« خوشحال ختـك »

کـه یی ته یه منت مومې وایی مغلـه　　کهدچا یهباغ کښې بوټی د کیمیاوی

« خوشحال ختـك »

دمغل منصب می پرښودهسي خوښ یم　　لکهخلاص داویه بنده بند یوان شی

دانا دره عقیده لـکـه زمـا ده !　　لاعجب کهبل پیدا هسې افغان شی

دمغل وتهبههسې کـار ښکـاره کړم　　چهراضی راځنې روح دفریدخان شی

آزادی تر باد شاهی لاتیرې کـا　　چه بل د حکم لاندی شی زندان شی

« خوشحال ختـك »

چهنوکری کـاڅوك ډیر گـنده کـا　　سړی ازاد وی خپل ځان بنده کـا

تر آزا دی نه بهتر هیڅ نشته　　چهڅوك یه کور کښې خپله دنده کـا

« خوشحال ختـك »

طمع بلاده اصیل بنده کـا !　　ښه ښه سړی وی دائی گـنده کـا

مادپر لیدلی دی چهطمع نـه لـری　　یه بادشاهانو یورې خنده کـا

«خوشحال ختـك »

لکه ونه مستقیم په خپل مـکـان یم　　کهخزان را بانديې را شی که بهار

« رحمان بابا »

که دعقل څه اثر لرې و سـر تـه　　لاس یهسرمشه دهر گـیدی ودرتـه

یهنظر دهغو خاوره سره زر کـېږی　　هرچه نه لری نظر و سیم و زرتـه

بی منته جام د زهرو ځـکـلی ښه دی　　نه هغه چه منت بارشی و کوثرتـه

دیوسف له حاله زده که دغه پسه　　وایـه حـال د ز مـانې وبـرا درتـه

دی فلـك وچاته هیڅ بخښلی نه دی　　چه یی نه دی را ښیرودی ځنی بیرتـه

که له خدایه دوې خلقووته مخ شی　　له فردوسه بهدې مخ شی و سـقرتـه

همیشه به در په در گـرزی ر تلی　　داستو گـنې ځای بهبیانه مومی چرتـه

ددې سست بدن منت پهرحمان باندې　　چهله خپله دره تلی نه شی بل درتـه

«عبدالرحمن مهمند»

روهي گلونه : ( ٥٢٥ ) ب سردار محمد ح عبرسید ر محمد امین ن رجب علی : ٥ اجرائیه پښتو ټولنه لیل ١٩ - ١ - ٢٦ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

زندگي که څوك پوهېږي حضور ده دی    آينده و رفته کله دچا ياد وي
« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښي کړم داحق سره دمدحې    نه مي زړه مومي اندوه دده له ذمه
دزلفېنو تر حلقو دي عذار و ېنم    که نسرين دي دی په زلفو کښې صنمه
« عبدالقادر »

چه مې شاکړه وښا دېوو ته ښاد شوم    چه د زړه مرادمې پرېښود په مراد شوم
اوس څه غم نکړم له غمه بې غم کړزم    راضي من چه دازل دويش په داد شوم
چه مې طمع ددنيا ور څخې پرې کړه    هغه کس که کيکاوس زه کيقباد شوم
ځان بازېد ولی کاروانه ديز پد کا    له شېخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم
خدای مي بيا په کښې بندی مکړه ترمرګه    احتياج عظيم زندان وه ترې آزاد شوم
هم يې ځان له غمه خلاص کړهم نيکنام شو    دېر مين په وروستني ضرب دفرهاد شوم
بادې بوی عبدالقا دره سحر راوړ    شگفته لکه غنچه په دغه باد شوم
« عبدالقادر خټک »

چه خوښ له ګمه دلګير له خاره دی    عشق له دو بېنه بې اعتباره دی
نه شکايت کړم لچا ، نه شکر    در دمی ادياره در ميان له پاره دی
« عبدالقادر خټك »

له پېخونده آزا دی شوه دسر وي    دګنی پخير پخو بنده بندی بيا
« عبدالحميد مهمند »

وزي تېزې پروت بخېل پوز کې ښه ئې .    نه په تخت د پاسه ناست دبل کړه
دمنت پولاو دي زهرشه ! کي مومی :    دمحنت سوی مکرك له ساکټ سره
« عبدالحميد مهمند »

تخت وتاج ته به سرکوز د همت نه کا    چه په داد ددهر پوه آزاده مرد وي
« اشرف خان هجري »

دافقير دولت په مرګه هسې هوس کا    لکه سېړی مسافر وخپل وطن ته
زينهار حلت په هسې ساعت ور کړه    چه دنيا وريانې نه وی وکفن ته
« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اېري    لاس له کار وباره وباسه که کار کړې
« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزا دهوی تري قربان شه    باد شاهان دشام دروم که دختن وی
ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی    چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی
« عبدالقادر خټك »

۱۷ _ انسانيت :

پوي اصل سره دوه او پامند هېه    خدايه څه بنی آدم فريق فرېښتو
« خوشحال خټك »

خلق نادیده دي په خبر و پسې تللي
جار تر عار فانو چه په حال دي پوهېدلي

دوه او یا مذهبه پکښې هومره قیل و قال
واړه سر هوا په خپل مطلب پسې دي تللي

د پیر دي کتابونه مشتمل په دېرش حرفونه
کل واړه که ګوري له الفه دي خوولي

سل بېلې سل سیبه چه یې مات په یوه ځای کړي
سل به بېل نه شي سره یو دي مالیدلي

واړه نور د نمر دي هم د ننه هم د باندې دي
هر چېرته دا نور دی په هر ښهر په هر کلي

زه خوشحال ختک یم د رندانو په مذهب کښې
نور ویل مې نزده مختصر مې دي ویلي

« خوشحال ختک »

## ب : بابېزه خویونه

### ١ ـ بدعادات :

عادت لاړ شي عادت له سړي نه
خدای دي نه کاندي په بد چار عادت خوک

« عبدالرحمان مهمند »

همېشه وي نرم چوب غذا د کرم
شیدا مه شه مرد خالي له سیاسته

« کاظم خان شیدا »

سترګې به سوزي د خس له نامردانو
که همه لکه ایري آتش نسب وي

« کاظم خان شیدا »

### ٢ ـ بې پته خویونه :

پو چه دېر خوري سوګندونه
بل چه دېر کاندي پورونه

آشنائي ور سره کمه
دا بې پته دي خویونه

« خوشحال ختک »

### ٣ ـ کوزتیا :

نور هر څه بد د کږېږي خطر دي !
کږې به نه کا چه دانشور دي

الف چه سم شي کږې پسې نشته
ځکه تر نورو حروفو سر دي

« عبدالقادر ختک »

### ٤ ـ بدنیتي :

چه د بد نیت په نامرادي کښې مراد غواړي
دا سبب ګڼه د خپلې نامرادي

« عبدالحمید مهمند »

### ٥ ـ بدګوئي :

چواړې د حلال خور په نامه بولي
له هغو خلقو بد ګوئي نده ممکنه

ته چه بد له خلقو واني زه و پرهېزم
چېرې ی خپله بدي نکړې معینه

له هغو نه به دومبې ستا عیب ښکاره شي
چه هر چا وته دي کړېده خندنه

« عبدالرحمان مهمند »

مه پر چا غیبت تهمت وا په مه تپله
مه د بد نامه په هیڅ بني آدم زده

« دولت لواڼی »

٦ ـ بېکاري :

د جملـه بـلاؤ سـرتـن اسـانـي ده
لټ غوبي شي خرخاوه په قصا نو
فراغت د بېغمي په ملـت کښ شته
خه امید د بېغمي کړي طالبانو !
« عبدالحمید مهمند »

٧ ـ ډېراحتیاط :

کل وسواس لـه احتیاطه پیدا کېږي
زه لـه ډېرې هوښیارۍ نه لېـوني شوم
« عبدالرحمان مهمند »

٨ ـ تذبذب :

کمال د کفر تر نـاقص دین ښه دی
یا درست گمان ښه دی یا درست یقین ښه دی
چـه کلـه د اشـي کلـه هغـه شـي
دا نـا تـه کـلـه مـذبـذبين ښه دی
« خوشحال خټك »

٩ ـ شخصیات :

دزړه غـلا پـه زړه کښ غـم ده
لا پـه تـېـره د سـردار
هـر سـر دار چـه پـه زړه غـل شـي
ځـان رسـوا کـا خـلـق خـوار
« خوشحال خټك »

١٠ ـ ظـلم :

بازچه وینی دځیگرخوری مرگ یې زروی
لـه دې وېنو ځان ساته زما ځیگره !
که تر خـه دی هـم شراب دقهر نغره
ظلم وجور په چا مـکړه ځیـگر وره
« عبدالقـادر خـټك »

چـه بیشوشی ډېـره گـېره یـې نـړېـلی
ډېر پـه ظـلم کښ ځوك مه کوه گـبر گوره
ماشی مړ کاندي هاتی چه سره تول شی
پـه یوه وجود مه کړه ډېر گوره
لړي لړي او به تولې شی ملـك وران کا
یه لـږ جبر چېري نـه شي دلـبر گوره
« عبـدالحمید مهمند »

باز کرکس شاهین جـوڼه تري په هوا شول
چه ثابت د عندلیب شو په گلعـذار حق
بلبلان طوطیان د فکر په تال ځانگی
خدای کړ پورته اد ې باغه دمنار حق
« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دې نـکـا چاته وازی دآزارخولی
دغه خولی ده په آزار کښ دښا مار خولې
په گړ کښ بخته برج هـسی میدان کړی
یا توبو بدی خولی دی یا دو یاړ خولې
د یوې خـو لـې لـه آزاره وو یـر پـېږه
که یمـر دې دعـا کا نـدې هزار خولې
چه پـرې راشـی د مظلـوم د آه سېلـی
کـالـه خـاو رو ایرو ډکـی د مدار خولې
چه قـوصر د آه سر دور بـانـدی لگـی
ور بـه نشی د هغه چا د پـر هـا ر خولې
چه اثر د مسیـحا لـري پـدم کـښ
خوږ وی دې هغه خلق پـگ فتار خولې
ورځ بـه شـی د غم شپـه پهغـه خـلقـو
چه پیاب بی بد دعا که هر سحار خولې
« عبدالحمید مهمند »

چه داغي يې سپين بشر په اور د ظلم
په لاس مه شه باز پرور د ظالمانو
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی
هم آزار دی پېغمبر د ظالمانو
چه نهال د ظلم کېنږدی ځني لاړ شی
تر پېخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
آزادي که دې پکار ده شمس الدينه!
له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس الدين كاكړ »

هسی خوښ د ظالمی په کار ولاړ دی
نه به وایي مرګ يې نشته تل به ژوی
« خوشحال خټك »

رسېدلی تر مطلبه به خود نه يې
چه خوړی د د مظلومو د سر وینی
« عبدالله پوپلزی »

۱۱ قهر :

ما نی مه کوه حنا نه صبر بو یه
جوړ کارونه خشموران کاندي تلوارهم
« مرزا حنان »

همیشه غوته جبین يې وي له کینه
له خپلو او کورو کلي مرور يې !
« ملا جمعه »

د جهان کینې غصې واړه تر شا کا
که سړی په وخت دقهر مرګ تر زړه کا
دا پیدا چه خو د بيني ور څخه نشته
د جهان ننداري ځکه دوه اېمه کا
په کینه په حسد هیڅ د چا و نشی
هر سړی چه حسد کاندي ځان او به کا
« خوشحال خټك »

۱۲ – تعجيل :

دانا وران کارونه جوړ په دانائی کا
په تعجيل سره نادان کاندي سم کار کج
« عبدالقادر خټك »

په هنر هنر خبري کره دلبره
تېزی مه کوه په هیڅ کار کښې د سره
« عبدالله پوپزی »

۱۳ – حرص :

په غم د نورو و غم ته ساز مه شې
سیك و عالم ته به خپل آو از مه شې
سړی په طمعه د بل بنده شی
د عا به دا کرم اخته په آز مه شې
« خوشحال خټك »

۱٤ – كبر غرور :

دغه زور به چلوې تر کو مه پورې
چه پوازې دې په ځان تمام جهان خوړ
تا چه تېز تېزه سمند د خو د را يې
ما دا ستا دېر پواته هله ارمان خوړ
« عبدالحميد مهمند »

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی
په پلیتو اوبو نه کېنږي او د س
سېره ! هیڅ به تېتو و نو لو يې مکړه
ستا به هم دغه قامت کاندي روزګار کج
« عبدالقادر خټك »

### ١٥ ـ بیوفائی :

چه یې نه وینی وفا په رنګ وبوی کښې / زر که ځکه مینه نه کا و ګلزار ته
«عبدالحمید مهمند»

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه / تو به و کا زه له یاره د بیوفا
«میرزا حنان»

که یې اوی دزړه به وینو لکه ګل کړي / هم هغه به یه زړه در کاندي شنه تا نده
«عبدالقادر خټك»

### ١٦ ـ طمع :

خوك چه طمع له چا کا په حقیقت کښې / که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
«خوشحال خټك»

نه دی نفس له ره جلب د ور کو لو / امو ختـه در باندي غل او کا سیر مشه
نور قیدونه و اړه سهل د ی حمیده ! / خو یه غا ړه د ي د طمع زنځیر مشه
«عبدالحمید مهمند»

له هغو ترخه ویل شي د حق یاتي / چه یه خوله کاندي خوږه حلو اد طمع
«عبدالحمید مهمند»

سړی توب به دي سپېتوب کاندي دا طمع / عزت و سا ته په صبر که د ا نا یسي
هسې چاري به حرص در باندي و کا / چه یه هیڅ شوي نه وی بیا به وا یسي
«عبدالحمید مهمند»

کهدي زړه وی چه بدای شي طمعه پریږده ! / خو دي طمعه چاته شته توا نګر نه یسي
«عبدالقادر خټك»

که یاس له حقه تحقیق حرام دی / یاس له مخلوقه د حق انعام دی
اصیل بنده کا خلاص شوی بند کا / طمعه له خلقو د خلقو دام دی
«عبدالقادر خټك»

شر موی هر یو سړی د دنیا طمع / دسبی توب نامه حاصل کا یه دا طمع
همت ناك سړي که خوار وی دولتمن دی / ښاغلی ګوره نه کوی له دریا طمع
د هغه د شرم بو زه یه مخ نه وی / چه کوی د نس د یاره له چا طمع
لکه خوك لوی یه خپله حیا کاندي / هسی ما و ته ښکار پېږي دا ستا طمع
لکه یو سپی چه هیڅ ښتی اسل هغي / هسی ده د یو له بل نا صلا طمع
د هغو د عزت پښه د ه بنو نېږد اسي / چه به دا زبره له چا کا ندي بیا طمع
تل دخواست لاس به یې نیولی دی کوڅه کښې / محمدي چه خوك کا بل ته پیدا طمع
د حاتم د سخاوت خبري مه مکړه / لا پیدا کښې هم د طمعی نشا نی ده
«خوشحال خټك»

### ١٧ ـ ریا :

در یا عمل مې طوق شو را ته غاړه / لکه خیور شی یه ځیګر د ستار د چا
«شمس الدین کاکړ»

۱۸ – بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه  تور مخونه به دوزخ ته قاضیان د رومی
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا  شرمنده به د دوزخ په زندان د رومی

«مطیع الله پیرخیل»

## ج: نصایح

دا همه له نا پوهی پیدا کیږی  خر خشي دعوي ناساري شر و شور
پیر څو، شه سلوك، نمانځنه، او بل عدل  کهدي دا خویو نه شته څه غواړي نور
کبرجن حریص بی زده چه دروغ وایی  د یاری لایق نه دی دا خلور
که وعده یی قیامت وی د غو ښتنې  د هوښیار سړی به نه وی په کار پور
که طالع یی د دولت په شربت ډك کا  بیا آخر شی د کم عقل جام نسکور

«خوشحال ختك»

چه د خلقو نیکخواهی لری په زړه کښې  مبارك شه بادشاهی لری په زړه کښې
که یی غوږ د دانشمند په نصیحت وی  څه عجبه آگاهی لری په زړه کښې
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشی  هر سړی چه تباهی لری په زړه کښې
د مردانو په معراج به ور تلی نشی  که دعوی کوتاهی لری په زړه کښې
مختورن د دوارو کونو ندی څه دی  چه هر چا سره سپاهی لری په زړه کښې
نیکبختان به اندیښنه کاندی د نیکو  گمراهان به گمراهی لری په زړه کښې
په هغه هنر کښې تنګیږ او سه خوشحاله  هر هنر چه سپاهی لری په زړه کښې

«خوشحال ختك»

په دوستانو تلطف کړه خو په تماشی  د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
د نمانځه تر قضا گرانه دا قضا ده  چه قضا شی د خلورو مصلحت
نورانی کا هغه ځای چه سره کښېني  دیرینه خلور هوښیار په مشورت
چه په تشه تواضع کښې گټه کیږی  هومره سود نشته دډك طباخ دست
که حاتم غواړي درم کړي د مهرانو  دیوې دمړی په چا مه زده منت
څو بدانو سره بد شی هومره ښه دي  ولې عفوه کرم ډیر لری لذت
که دي سرځی کهدي مال ځی کهدي نورځه  استوار اوسه په کار د رفاقت
په ظاهر باطن کفران دنعمت مکړه  هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه  بی محنته هیڅوك نه مومی راحت
که دارو په خواست موندل شی مه یی آخله  که دمرگ وته نژدې کاندي زحمت
که آسمان دي دزمری په خوله کښې ورکا  دزمری په خوله کښې مه پرېږده همت
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښې  چه یادیږی د سړی د خوی خصلت

«خوشحال ختك»

خپل استاد وماته ووې خو پندونه  هر یو پندی مرغلري دی لا لونه!
وې چه هره بدی کړه هغه بد مکړه  چه دلاسه دي آزار شی دچا زړونه
که دي زړه وی چه بدنه موې له چانه  اول ته پرهیز ده د بدو خصلتو نه

دشهوت په غوښه مه ځه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیڅا مه کړه
د هر چا سره دښو سلوک بایده دی
ددنیا په مال دنیکو نوم حاصل کړه
د هرچا سره نری ملایمت کړه!
خپل پردی ته دخپل راز خبره مه کړه
خوشخوئی هر گوره ښه ده نه دا هوموره
هغه کار چه په زړمی تر سره کیږی!
و هغو وته چه قهر کړي روا دی!
دهغو په مرګ ثواب ګڼلی بویه
که دښمن دي ډیر زبون ته ځني ډار کړه
ددښمن په تملق غلطی مه کړه
عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پریکا
چه دي لاس په دښمن برشی پرې یی مږده
په خپلوانو باندي هومره خشم مه کړه!
دپاد شاه په مهرمینه غلط مه شه!
پاد شاهان چه په چا مخ کا دبدی
په هغي معشوقي ځه باور د کړو دی
د پیلو پانهي خوره نه هغه پاستی
دبد خویه سره هیڅ بدی ته مه کړه!
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه!
په هر کار کښي چه دی پیښ شی بیړه مکړه
په رښتیا که په دروغ وی سوګند مه خوره
د حرص سترګي مړي به قناعت کړه
که هرڅو دي علم ډیر چه عمل نه کړي
دښه دین دپاره علم، دانش ښه دي
په جهان کښي که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملګیری در ځني پریکا
کهدي ورورو ی کهدي ځوی وی چه بد کار شو
چه بد فعل، اوبد غرض په کوم ځای ناستوی
چه په کالو وی مشران نه یی حرمت کړه
په هغه کور کښي چه ښځه چرګه بانګ کړی
هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراؤ خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډک شی و دښمن ته

پیدا اور د ډیرو سوی دی کورونه
دازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښي څه فایده د کوم سودونه
تل جهان و چاته نه پرېږدی مالونه
ګڼدي وی چه پداخپل کړي دچازړونه
د بخچی دننه ښه دی خپل زر ختونه
چه په باغ کښي دي خرتیزی وهی خرونه
څه حاجت چه رساوه شی تر جنګونه
چه اری دبدو فعل بد خو یو نه!
چه پای سوځی له شامته غاړي غرونه
په یوه شجري و سوځی ښا رونه
درستم غوندي هم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ورمونه
دما رانو په غارمه منه لاسونه
چه پردی ورځني تښتی په ملکونه!
زورور په لږ ګناه و هی سرونه!
و سپیندو ته تړل نه شی بند ونه!
چه په هر لوری یاران لری زر ګونه
چه بی خوري دنو کری په خوشرطونه
غلیمان ور لره بس دی خپل خو یو نه
د ګټي پر، و نه خوازه لری ګلونه
په تلوار، سره ورانیږی جوړ کارونه
منافق وی چه ډیر ډیرخوری سوګندونه
چه په کور کښي دي انبارشی نعمتونه
ته حمار یی په تا ایښلی کتابونه
نه پیدا چه پری لوټي پردی کورونه
چه و سختی و ته و نیسی لاسونه
دبدانو خو هم تور ښه وی مخونه
چه په لاري تر تا تېر دروهی ستاملونه
په خپېروی کاږه کړه ور مېږو نه
دهغو د ناستی تښته په ګرو هونه!
بیا هغه چه دي په ځای وی اکه ترونه
دهغو خونو نه ځی بر کتونه
مه عمل کوه په ریا دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندي خرخونه!
لږو ډیر په زبان مه راوړه عمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر کار به دي لاس بروي په ځوانۍ کښې
که طاعت که عبادت که نور کارونه
په ځوانۍ کښې چه د کار نه لاسه ووزي
په پیرۍ به دي ونه رسي لاسونه
همیشه او سه خو له پټه لکه ناوې
چه ضرور شي هاله وکړه دوه حرفونه
سر هغه به دانا معقول په جهان څوک وي
چه همیش په خندا سپین اري غاښونه
که خبره که خندا کړي ځکې ځکې !
هره چار تر حساب مه کوه بیرونه
که دې زړه وي چه بې عیب دې ښکاره نه شي
چا ته مه شماره د خلقو ټول عیبونه
که له تا نه په قوت د متو زیات وي
له هغه سره حجت مه کړه بحثونه
چه توانیږي د هغې خبرې لاف کړه
او که نه په دروغو مه وهه لافونه
چه د ښمنو کښې د جنګو څرخشې وي
ته بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
که دي واوریدل چه بیا وبله روغ شول
نور په خپله وسله ووهه لاسونه
چه د ښځو نه بتر دي هغه څوک دي !
چه د ښځو سره کا مصلحتونه !
خدای هغه په دواړو کونه دی نمانځلی
چه په ورځ کا عدل وداد په شپه نمځونه
چه د زړه په تمامین د هغو نازو ده
تل نیاز منو سره وړي دي نیازونه
داصیل شیوه خپل اصل نه ابیاس دی
په زربافو کښې پالم وي پامزي و نه

« خوشحال ختك »

په پیرۍ کښې چه هوس دې د ناب کړي
بې هوده ګمان به صبح د مهتاب کړي
داسته ګناه کوي توبه وکاږي
لکه بت هسې په غټو ستر ګو خواب کړي
علم وکړي بې عمل وربانډي نه کړي
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي
په شپه پروت بې د مغان په میخانه کښې
او د ورځې مخ په لوري د محراب کړي
له خالقه دې نه شرم نه حجاب وي
له رحمان ګوښه ونیسې حجاب کړي

« عبدالرحمان مهمند »

کړه ګیلو کړه چه سینه د ګلزار شي
اغزي مه کره په ښو کښې به دې لار شي
نه چه بل په غشو ولې هسې بوه شه
چه هم داغشي به ستا په لور ګذار شي
کوهی مه کنه د بل سړي په لار کښې
چیرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
ته چه هر چاته بخوارو ستر ګو ګوري
لا به دوه بې به ستا صورت تر خاور وخوار شي
آدم زاد په معنی واړه یو صورت دي
هر چه بل آزار وي هغه آزار شي
که نه نه کوي نظر د چا و عیب ته
هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شي
د مټان کړه لوږه مڅکه باندې ه کا
سر کوزی کوه چه پښې دي مرغزار شي
دمات لوښي او از کله ثابت څېږي
د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شي
واذا حکمتم بین الناس راشه واوره
حق باطل سره جدا کړه مهنې نغاره
مدا ماچه لکه باز غوښې دقام خوري
عاقبت به شي بندي په ښو په غاړه
جوړ وي نوی قصر ونه خبر نه شي
تن صبا دی ابا دی و پنم و یجباره
فکر وکړه وخت کو تاه دی ورلو یږي
د دنیا پر لانده پاتې بانده ی و لاړه !

« مرزا حنان »

نن چه صبح دی رو شانه لار صحیح کا — نا گهانه به دا صبح شب تار شی
لنږه ئي مه گڼه هر څو که گناه لنږوی — چه لنږ لنږ و سره جمع کړی بسیار شی
که بل بد کا ندی ته ئې ورسره و کړه — هر یو نخل چه میوه لری سنګسار شی
تل و ښو و ته آزار د بدو رسی — هر چنجی و نرم چوب و ته دوخار شی
هغه زده به له طوفانه په امان شی — چه کشتی غوندی د خلقو بار بردار شی
خدای دې بدله لاسه نه کا او که وی هم — در حمان دې له کل بد و استغفار شی
« عبدالرحمن مهمند »

اې مدام د بل په کمه روا داره — نیکی نه کوی بدی لره تیار ه
قدم منږده پر عاجز میږی په ظلم — نه چه دغه پشه دی و مبتلی له مار ه
هر چه وی صباح بې راوی لنږ که ډیر وی — دا چه نن یی پستم اخلی له خوار ه
کبر مه کوه چه کبر پر خدای ښائی — چه رانده په دا شیطان شو له دربار ه
تکیه مه کوه پر مال فرز ندبی بخته! — که دې مال که دی فرزند دی نایکار ه
دا جل صیاد طلب د استاد روح کا — ته طلب د مال اسباب کړی نا قرار ه
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښی — دی بهتر له هغه گنجه بې شمار ه
« مرزا حنان »

دیر به ستا په سبب خواب دراحت وکا — که دمهد په شان ورك دخان ارام کړی
« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه — اسا نه ندده د سر بند نه
مصلحت مه پر پنږده د خپله لاسه — هم به خپل راز لری د زړه د ننه
« خوشحال خټك »

همیشه وائې چه خدای مې پیښ ندلی په یکی دی — که دی خدای وی پیښ ندلی مینه مکړه په باطله
په خپل حسن غره مه شه که په حسن لکه گل شی — زمانه به دی ځېره په یو څو ورځې کا زائله
« خوشحال خټك »

د چا وخوان ته خالی کښل مکړه — که تل دی خوان خوری منت په بل مکړه
چه پری باور ځی هسی ویل مکړه — چه مال د بل شی هسی بیا تل مکړه
( خوشحال خټك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا — یا طبیب وتا ته بدې کا شکرې
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزې — له شکرو به هم گرزې اري لري
په قران کښې چه شراب دی منع شوی — ته یی وائې لکه پې د مور نغري!
« خوشحال خټك »

عاقبت به یی زده ترلاسه کړې حنانه! — لکه زلفې د نگار تواضع خوی کړه
« مرزا حنان »

لکه ځان ژغوری بربنده‌تېروتورو     هسې خپل سرله بېپرو دسحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوی په باطن سپوروی     په‌ژبه خوږوی په زړه کښې شوروی
ور سره مه کښېنه تا به تبا ه کا     سپین زر که‌سپین وی اثرېې توروی

« عبدالقادر خټك »

له همه واړه عالمه صلح کل شه     وښوېدو خوشبویی ور ځکوه گل شه
تعلق په تېرېد و نی هوس مکړه     په بهار کښې په زارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټك »

څوك چه نرم ویل کا عمل‌بی گوره     تېگان نم په خوله ویل کا نرم‌نرم

« خوشحال خټك »

ښېښتن مو مل د ی     اوس مویېر غل دی     هواد د بېل د ی
غازیانو گوری،     ښېښتن مومل دی
توري تېري کړی،     د ښن مو پرېکړی،     منګلی سري کړی،
خله بـه تښتو     ښېښتن مومل د ی
که‌تپنگه کړو زړونه     ېر بـری یو نـه     چه زمری یـو نـه
اسلام راځخه دی     ښېښتن‌مومل دی
غا ز یا نو را شی،     تول شا ؤ خوا شی     دشهاب په ملا شی،
دښن موغوځ کی،     ښېښتن مومل دی

« شیخ ملکیار فرشبن ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب‌الدین غوری سره ؤ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجز په رقم ویلی دی . »

•••◆◆◆◆•••

# دریم باب: پښتو او پښتونوالي

## ۱- میړانه او توره:

مرد به نه شي په گفتار      خو پیدا نه کړي کردار
چه دې و ښکنځي مرد نه یي      که له تا نه وي په دار
چه څه دي خو انتقام دی      د مردانو کار و بار
عفوه هور ته ځای لري نه      چه نه عیب وي نه یي عار
چه عزت و رڅخه نه وي      هغه مرد نه وي په کار
هم مهره لري هم زهر      ښه مردان دي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي      تر هغو ځوانانو جار
مرد به غم دخپل ننګ کا      نه د زر نه د دینار
مرد به غم کا دخپل شرم      د عزت د اعتبار
نامرد فخر په نسبت کا      مرد نه مور لري نه پلار
د خوشحال خبرې کوره      لعل و دُر پیبي په تار

«خوشحال خټک»

یا د سپینې توري مرد شه یا عاشق شه      چه یا د سپینزي په پند لو په سندرو
د خوشحال خټک خوښې په هغه وخت وي      چه بر ښنا د سپینو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد په دا تفاوت و شو      په نامرد، شرم آساندی په مرد گران دی
مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي      که د سرو بره دي نه شي کار آسان دی
کاشکي ته په دا دنیا همیشه پاتې      په احتیاط احتیاط کښې د هر خلق طوفان دی
که د ځان که د ایمان بدخوامي د بردي      ما په خدای پاندي سپارلی ځان ایمان دی
ننګیالي چه د اخلاص توره په لاس کا      د هر اشکري د همت پوري کاروان دی
په ښادي سره شریک دي اولسونه      غم یوازي د خوشحال خټک په ځان دی

«خوشحال خټک»

مور دي نه شي پاندي پوره      چه مهر و نه د کار زار دی
څوک چه شته تر شر قسه غر به      د تورزنو خدمتگار دی

«خوشحال خټک»

د رست پښتون تر قند هاره تر اټکه      سره یو د ننګ په کار پټ و آشکار
په داهسي وخت، چه وخت د نام و ننګ دی      دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي      بې د توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دي      که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار!

«خوشحال خټک»

مېړنو له تښتېدنه شرم دی یو نسه !    د نصیب له پېښې مانوه جلب

«یونس»

خه سړی خه یی تدبیر !    هم هغه شی چه تقدیر
که جهان شی تیره توره    ستا به مرګ شی خلق خیر
بی تقدیره به و نه مری    نه په توره نه په تیر
بی اجله مرګی نشته    تیغ و هم مکره تقصیر
لکه کار د مړنی دی    هسی کار نه دی د پیر
د غازیانو شهیدانو    پر وا نشته د سمسیر
کل ګتنه ده د توری    که کابل دی که کشمیر
مړنی دی چه یا د پنځی    په سندر و هم په ویر
چه په دروغ د توری لاف کا    د هغو نه یم د انګیر
توره نجره د خوشحال ده    کال په کال خلق خبیر
تر اوو پېړیو پوری    واده مړه په تیغ و تیر
دا د ځان ستاینه نه ده    حقیقت وایم په ځبر

«خوشحال ختك»

چه په توره یې ځواب ور کړی مردیده    که وجوددی څوك آزار کاندی په چوب

«خوشحال ختك»

چه مین په وسله نه وی    مرد دی نه وائی خیل ځان ته
لاس دی سره کا ستر ګې توری    ځان دی و جوړ وی ځوان ته

«خوشحال ختك»

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای    ښې ښې دلبری ښه ښه احباب وای
مجلس د خاصو کتاب په مینځ کښې    نقل د تورو و خت د شباب وای

«خوشحال ختك»

د زنانو په حساب دی مردان مشه    چه له زیبه له زینته هم آغوش وی
شړی ور پښتون به سل په د که یوسی    کشمیری چه بغرګ شالونه یې په دوش وی

«خوشحال ختك»

د بلا ته د اختیار توره په لاس کښې    وقضا وته تسلیم په شان دمړه یم
تند رهم زمانه ذاته نه پیدا دی    په سپین زړه که د باران سپینې اوبه یم

«خوشحال ختك»

چه جنګیالی وی دولت هغه مومی    چه ننګیالی وی عزت هغه مومی
دا د واړه تو کسی سره تړلی دی    څوك چه محنت کا راحت هغه مومی

«خوشحال ختك»

چه ځان غواص کا ګوهر هغه مومی    چه بی ننګی وا خلی دلبر هغه مومی
دا کا رمې خوځله په ځان را غلی    له سر چه تیر شی ظفر هغه مومی

«خوشحال ختك»

ستا رقیب کله زما په مخ را تلای شی

چه زری شی میاشت آخره شپه را خېژی
ښې ورېښمنې جامې خوی د اژدهار تېنو دی
له یارانو اخلاص تلملی دی حنا نه!

د میدان په ورځ چه تښته کا له جنګه
له میدانه تښتېدل کار دی د زنانو
چه د تورو په برېښنا یې وار خطا شی
د ضرور په ورځ به تښته له ګیدړ کا
د عزت صدقه سر د سر د نیا ده.

دمړو و جنګ ته نه د رومی غورتې
« مرزا حنان »

په ټوله جهان له عالمه په افلاس کښې
د مېړه مړانه نه ځی به کرباس کښې
ګذران د زمانی شو په لباس کښې
«میرزا حنان»

یا تې هیڅ نشی باقی له نام و ننګه
مرد به نه تښتی له غشی له تفنګه
مور یې مه وای په هغه غولاتی انګه
چه همېش کاندی خوښی له نای وچنګه
مړ نی به شرم سرور کا بید رنګه
«یونس»

## ملی وحدت

تو له یو دی که غلجی که ابدالی دی
چه عمل یې د نېکۍ وی مېړه هغه

ښه هغه چه یې ښېښه د زړه صفا ده
که اغوستې یې ګدله د خامتا ده
«احمد شاه بابا»

٢ ـ ننګ او ناموس :

چه ننګ کا ننګیالی دی ورته اېښی دی دوه کاره
یا کام د ننګ حاصل کا یا د دوی مینه سپېرېږی
«خوشحال خټک»

چه د ننګ په چارو نر ندی خوشحاله !
که یې نر وینی په ستر ګو هم ماده دی
«خوشحال خټک»

کاشکې ځوان دې پښتانه په ننګ کښې مړوی
چه دقام به ننګ کښې و مړ هغه ځو یه
نه چه ګور له روان شوم له تلتکه
په عالم کښې دخیل پلار غاړه کا لکه
«خوشحال خټک»

څه یو ازې ننګ په ما را غلی نه دی
چه شور وا خوری دمغلو واده سپی دی
ګور به هم په ژړا سر کړم که یې ور وړم
پښتانه د پردی په غرو نه په سمو نه
د سګانو په خو له څه اخلم نو مو نه
زه خوشحال د زړه دا هومره املو نه
« خوشحال خټک »

چه د بل ننګ و ناموس سا تلی نشی
و به نه ساتی خوك خپل ننګ و ناموس
« عبدالحمید مهمند »

دخپل رنځ د درد علاج را څخه نه شی
د ګلو خو په هوس شپې ر نېـو مه
تلخ ویل پر رقیب څو کوی وما ته

په حکمت که ارسطو و افلاطون یم
امو خته لکه شبنم په د ا شبخون یم
آخر زه شمس الدین ننګی لرم پښتون یم
«شمس الدین کاکړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وا نخلی له غلبه انتقام
چه دننگ او د ناموس اندوه یی نشته

مرد نه خوب کا نه خوابه کانه آرام
د هغه سری به نه وی احترام
« خوشحال خټک »

نام وننگ افغانی می ولاړ بر هم شو

انصاف نشته د خوبانو به بازار کښې
« عبدالله یوبلزی »

واړه ننگ د پښتانه دی گدا نه تحی

حال بی ورخ پهورخ زبون دی ستا به غم کښې
«خوند گدا »

په جهان د ننگیالی دی دا دوه کاره

یا به و خوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال خټک »

ننگیالی د ننگ د یاره
سر به باد د سری پر بوزه
چه په نام و ننگ اړ نه وی
د جهان بلا دې کل وی

په هر خه لګوی اور
چه یی نه وی ژو ندون نور
که تل ژوی مخ ئی تور
خو دې نه وی ویی (۱) سپور
« خوشحال خټک »

سر به دار لاك شوی ښه دی
نه لاك شوی په پیغور

۳ ــ ټینگښتیا

قول و بول په ژوندون نشی بد لولی

ځکه ځان په جهل و ژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مرد عشق په جهل کرم ناصحه!

وا به نودم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

ددنیا ناوی به بیا په نکاح نکړم

که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانړیزی»

زما خه بی اعتقاد د عقیده د ه

چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ »

د مرد چه نه وی وینا محکمه
چه یو ی ز ده وی بوه خبره

په ده به نه شی در غلمه سمه
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال خټک »

٤ ــ ښه ځوانی :

جار شم قربان شم دپلار له پنده
لذت دور کړی تر ساتل ډیر دی

راته یی ووی زما فرزنده !
خوی خیر ندی ممسك له خوند ه
« عبدالقادر خټک »

دلو یی به مقام به هاله کښېنې

که دور کړی دمرانی به وزرځی
«عبدالقادر خټک »

(۱) ویی : لفظ ، کلمه .

د خپل ځان دپاره یم درم اسراف دی　　　چه په بل خونه ښندي بی اسرافی ده
«عبدالقادر ختټک»

تراول کښېول دزرو ښځي کاندي　　　ور کول بازل یې خوی خصلت دنرو
«عبدالقادر ختټک»

چه شجاعت کا دنیا په کف لري　　　نوم به دنیکو په هر طرف لري
هر چه حاصل کا دا د واړه خویه　　　هغه میراث دشاه نجف لري
«عبدالقادر ختټک»

که ځوا نمردی بل آزار مکړه په ګلو　　　ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
«عبدالقادر ختټک»

چه ګټل خورول بخښل کا ځوان هغه　　　چه تور ره لری د توري خان هغه
کان دلعل ودیا قوت و ګوهر څه دی　　　چه احسان تري پیدا کیږي کان هغه
چه نی ته په ګېره وخوري حیطه شی　　　د مجلس سره چه خوړ شی خوان هغه
که دمال دی که دملك دی که دلیچو　　　چه نی توان دچا یکار شی توان هغه
په تما مه شپه په ورځی مباشتی کال کښی　　　چه د خدای په یادو دروی آن هغه
چه دخوك دوړاندی روستوځی داخه شی　　　په تنها وجود چه شان شی شان هغه
و نور چاوته وران مه وایه خو شحاله !　　　چه قول عهد وران شو وران هغه
« خوشحال خان ختټک»

که پښتو ن شی ګدا ګر د کل جها ن　　　غګ نی تلملی دد ودی دی تربونان
هسی شه مهما ن نوا زه خلك نشته　　　لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغان
که بهردر ته مرزی شی خویه کور کښی　　　له اده ځان میر نی کړی تابه خا ن
ده رچا ځای له چه ور شي بي تکلیفه　　　کټ بو زی در ته تیار وی آش و نان
« میر احمد شاه رضو انی »

٥ ــ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را علم　　　ماد هسي د ماغ سر ندی را وړی
له اصلی فو لاده هله تیغ ر غیږ ی　　　په وار وارچه ځني لاړ شی و سنیخړ ی
« خوشحال ختټک »

که زه ګوری درد آشامو سره شماریم　　　خوار هغه چه نی لهما سره آهنګ دی
هر ملځی دسر بازی هنر څه زده　　　چه په دا هنر کښی سر ښندی پتنګ دی
لا تر او سه نی ماغزه په قرار ندی　　　چا چه ما سره و هلی سر به سنګ دی
د ګینډیو به ځیګر کښی ئي ګولی دی　　　که لیدلی چا دما د ښکار تفنګ دی
لا په خوب کښی به لرزه پر بوزی له ګته　　　چه دچا ترغوز زما د توری شرنګ دی
که په دا د رومی ګو ري هغه زه یم　　　چه می داغ په خاطر ایښی داورنګ دی
در ست جهان می ومغل و ته خپر کړ　　　ځای په ځای نی پښتانه وته قلنګ دی
ځنی څه او یه دعوی لرم په زده کښی　　　ولي څه کړم چه پښتون واړه بی ننګ دی

خو طالع را سره هسې مدد نه کا / ګنه تېر تر فريدونه مې فرهنګ دی
دخو شحال دزړه دحال ننداره وکړه / که په تخت دياخه کښېني هم ملنګ دی

« خوشحال خټک »

چه زما د در ويزې په کچکول تحير شي / دحاتم به زړه به سهم د سوال پرېوت

« عبد الحميد مهمند »

هسې رنګه له دې عالمه تنها خوښ يم / چه مدام لکه وحشي په صحرا خوښ يم
تر هغه چه خشک طينت د صحرا و يسم / لکه موج اواره په دريا خوښ يم
چه شاړه وې له اقبې و زې مګس شي / کاله زه د هغه خوان په صلا خوښ يم
چه په شان د آفتاب نده ګرم رويه / ستا په سر که په سايه د هما خوښ يم
چه په قيد يې د قفس کړم لکه زرکه / تر دا هسې خنداڅ زه په ژړا خوښ يم
که پيدا ر لکه تصوير له خوابه نه شو / په دا حال له خپله بخته شيدا ! خوښ يم

« شيدا خټک »

جهان شرم نام و ننګ دی / که دا نه وي جهان رنګ دی
چه وفا و رخه نشته / ګل به څه کړي چه خوشرنګ دی
چه يې عشق تر سره کړي / نور خو ټوک نشته خو پتنګ دی
په ښاغلي جهان ارت دی / په غو و ليو باندې تنګ دی
چه خوشحال باندې ناستې کا / دا بو زې ندې اورنګ دی

« خوشحال خټک »

اکوړی ، يحيی ، شهباز واړه سره زر وو / په خيل دور واړه وبه تېر کړي خپل وار
اکوړی ، يحيی ، شهباز واړه زمري وو / زه هم نه يم د ګيدړو په قطار

« خوشحال خټک »

د حاتم غونډې مې خيل و حشم نشته / په عطا کښې له حاتمه برابر يم
سخاوت مې په تقليد په رسم نه دی / زه له خپله سخي ښابه پسر يم
په وګړي مې خبرې د مردي شته / په همت کښې به هرلوري نامور يم

« خوشحال خټک »

هر چه کاندي نوکري د بادشاهانو / خامخا به د دربانو منت باروړي

« عبد الرحمان مهمند »

مطيع الله له موره پلاره هم سوال مکړه / سل بلا شرمندګي دی په سوال کښې

« مطيع الله پير خيل »

درويزه له درويزه ګرو ناکسی ده / د فلک کچکول ته مه ګوره کچکول
چه رښتينې سيده صاف نه وي حميده ! / بولي بولي عالمان دا هسې بول

« عبدالحميد مهمند »

هسې فخر شمس الدين کاندې په عشق کښې / لکه فخر کړي پښتون په خپل نسب

« شمس الدين کاکړ »

دروغ ويل هغه کاچه يې وېره وي يا طمع / خوشحال به دا لاندې حق به وايي خو يې سرشته

« خوشحال خټک »

روهي ګلونه (۵۲۰) ټوک سردار محمد ح : سراج الدين ر : محمد امين ن : رحيم علي ه : د پښتو ټولنې اجازه ۲۶-۴-۲۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**